# یادونه او درمندونه

د کتاب نوم ــ یادونه او درمندونه
لومړی چاپ
د کتاب موضوع ــ شعر.
د کتاب لیکونکی ــ سلیمان لایق
د کتاب خپرندوی ــ دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت داطلاعاتو او کلتوروزارت.
د کتاب دچاپ شمېر ــ پنځه زره ټوکه.
د کتاب دچاپ نېټه ــ د۱۳۵۷ هجري لمریز کال دچنګاښ میاشت
د کتاب دچاپ ذمه وار ــ غلام حضرت همکار.
دچاپ ځای ــ دولتي مطبعه. کابل ــ افغانستان

# دگوندي رهبریادداشت

ملګری سلیمان لایق زموږ دهیواد یو پیاوړی او معاصر شاعر دی. دده یوه برخه شعرونه دزیارایستونکو طبقو او اقشارو له ګټو څخه دفاع کوي او دهغو منافع تمثیلوي. په دې کتاب یادونه او درمندونه کې هم یوه برخه داسي اشعار شته چې هغه په ټولنه کې دطبقاتي تضادونو دخر ګندولو په نسبت ویل شوي دي.

هیله ده چې داکتاب زموږ دزلمي نسل پرذهنیتونو په زړه پورې اثر وښندي او دنورو زلمو شاعرانو او لیکوالودپاره به یو ښه مثال شي.

په درناوي

نور محمد تره کی

د دلو ۲۵ ــ ۱۳۵٦

لمړی

# داطلاعاتو او کلتور دوزیر یادداشت

دافغانستان ددموکراتیک جمهوري حکومت داطلاعاتو او کلتور دوزارت لپاره دډېرې خوښۍ ځای دی چې خپلو کړېدلو او ربړېدلو او له مترقي فرهنګ څخه لري ساتل شووا و محروموخلکو ته،یو نوی اثر،وړاندي کوي.

دثور پرتمین انقلاب ،لکه هماغسي چې دژوندانه په نورو برخو کې دژورو او ښتونو اوتحولاتو سریزه پیل کړې ده،زموږ دخلکو دنوي او مترقي فرهنګ اوهنر دایجاد په عظیم کار یې هم لاس پورې کړی دی . او دا کار البته دا فغانستان دخلکودلرغوني فرهنګ دمیراثونو اودرنو دودونوله ساتنې سره په متناسب ډول سرته رسوي.

زموږ هیواد چې په بېلا بېلو ادبي اعصارو کې د دري او پښتو شعر ډېر ځلاند ټاټوبی او مرکز پاته شوی و،له بده مرغه په راوروسته کلوکې دملي ضد ،ولسي ضد اوفرهنګي ضد حکومتو دتسلط په وجې،شعر او ادبیاتو په زحمت سره نیم ژواندې او مړاوې سلګۍ پکې وهلې.دشعر ډیوه ټپه وه ،ادبیاتو یوه منحطه او ارتجاعي بڼه غوره کړې وه،دتیاتر او تمثیلي هنر په نغري کې یوائحي ایرې پاتې وې ،او په کلي ډول سره د هنر او فرهنګ فضا یوه مسمومه نکې اوزهرجنه فضا وه.

ویاړو چې دافغانستان دثور ستر انقلاب ددغه هیواد هنر پالونکو بچیانو ته دا موقع په لاس ورکړه چې هر ډول ناروا سانسور او غیر عادلانه بندیز له مطبوعاتو څخه لري کړي او ټولو هغو وطنپالونکو او صدیقو لیکوالو او شاعرانو ته دا آزاد فرصت په لاس ورکړي چې خپل خوځنده او انقلابي آثار،که نظم وي که نثر، دخپلو زیا ر ایستونکو خلکو په خدمت کې وړاندې کړي ،هغه آثار چې وطنپرستانه او مترقي محتوی لري.

داطلاعاتو وزارت تر وسه وسه هڅه کوي چې زموږ خلکوته ددغسي آثارو په زیاته اندازه وړاندي کولو سره هغه تنده لري کړي چې دوی بالاجبار دپردیو غولوونکو او لارورکوونکو

دوهم

ادبیاتو له لارې کښېښوله.

دادی حاضر کتاب چې دثور دانقلاب په سباوون کې تاسو ته وړاندي کېږي دهیواد دمبارز او انقلابي بچي ، پېژندل شوي شاعر او لیکوال،ملګري سلیمان لایق اثر دی چې هغه دغه دزړه کترې داستبداد په بدو شرایطو کې خوندي ساتلې او خپلو زیار ایستونکو خلکوته چې دهغوی لپاره یې ژوند کړی،مبارزه یې کړیده او خپل ژوند او هستي یې ورته وقف کړېده، وړا ندي کوي.

دلایق د «یادونه او درمندونه» اساسي محتوی په دوو عناصرو کې خلاصه کېږي: خلک او وطن.هغه خلک چې دتاریخ ریښتیني ایجاد ګران او جوړوونکې دي او هغه وطن چې دهمدغو زیار ایستونکوایجادګرانو کور اوټاټوبی او دمنځو سیمه بلله کېږي.

او ځومره ښکلی دی هغه شعر چې دټولو شعرونو خالق او جوړوونکی پکې ستایل کېږي او لمانځل کېږي.

داطلاعاتو او کلتور وزارت ویاړي او هیله لري چې دغسي مترقي اوپر محتوی آثار په زیاته پیمانه خپاره کړي او په دې توګه د وطن دریښتینو زمنو او لوڼو،دانقلابي لیکوالو،شاعرانو او هنرمندانو،حق ورادا کاندي او دملي او مترقي فرهنګ یوه شتمنه پانګه منځته راولي .هغه پانګه چې راتلونکې نسلونه دمبارزې، وطنپالنې،خلکو ته دخدمت او دیوې پر مختللې ټولنې دایجاد په لار کې تربنه الهام واخلي اودلارې راڼه مشالونه یې وي .

داطلاعاتو او کلتور وزیر
بارق شفیعي

# لايق او دده شعر

سلیمان لایق دشاعر په توګه دافغانستان دملي شورا داومې دورې دنهضت څخه زېږېدلی شاعر دی.دې نهضت دده دشعر لومړنیو سپرغیوته لمن ووهله او ده ته یې لاره خلاصه کړه چې دسترو پښتو ژبو شاعرانو په کتار کې ودرېږي.

ده په دې دوران کې چې لا ډېر زلمی و، دوطن دفاع ته ور ودانګل، داستبداد، بې عدالتي او داستعمار له پاته شونو سره یې مبارزه پیل کړه اوله لیریک شعر څخه یې مبارز شعر ته مخ ور واړاوه. دسیاسي اختناق او بندیز له کبله ده نشو کولای چې خپل شعرونه دډله ایزې مفاهمې دوسیلو له لارې خپاره کړي، نو به یې هغه دانقلابي روښانفکرانو په مرکو کې لوستل او دهغوی په ذریعه به نقلېدل او عامېدل.

دی ۱۳۳٦ هجري لمریز کال په شاو خوا کې، دکارګر دطبقې دنړۍ لید تر نفوذ او جاذبې لاندې راغی.

د۱۳۳۸هجري لمریز کال په حدودو کې لایق داصولي کیڼو روښانفکرانو په محفلونو کې یو پېژندل شوی اوفعال شاعر او لیکوال و.

په۱۳۴۳ کال کې لایق دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند مؤسسې کانګرې ته چې

ددې ګوند دمشر ملګري تره کي په کور کې راغونده شوې وه ،داستاځي په حيث لاړ او دده په قول دوباره تولد شو:

کله چې له ګونده دکانګرې انتخابي شومه
وزېږېدم بيا او تولد انقلابي شـــومـــه
نور دمحتسب په کوڅه نه ځمه او نـــه ځمه
لاړم له جوماته او سپېڅلي شرابي شومـــه

(سپېدې دلايق ناخپور شوی اثر)

دلايق شعر زما په نظر دوه مرحلې لري:

يوه مخکې تر ۱۳۳۸ کاله.

بله وروسته تر ۱۳۳۸ کاله.

په لومړۍ مرحله کې شاعر لا دخپل تفکر او شعر په احساسي مرحله کې دی. دهغه شعر يو تېره پرېکړه وني او روښانه لوری نلري او له ځپځپاندۍ سره مخامخ دی:

چېرې يو سم دار سوا او ناقـــــرار زړه
دآرزو په لمبو سوی ګرفتـــــار زړه
زړه مې غواړي چې له زړه سره همراز شي
خدايه وښيه دې زړه ته يو بيـــدار زړه

(چونغر)

په دغې مرحلې کې شاعر په نيم راڼه مزله روان دی او نه پوهېږي چې چيري لاړ شي او څه وکړي، خو وروسته تر ۱۳۴۳ څخه دشاعر دسياسي اوهنري واقعي بلوغ زمانه رارسېږي ، په دغې مرحلې کې شاعر خپله ليکه موندلې ده ، ژوند او هستي ته په ډېره روښانه سترګه ګوري ، هيڅ شی ورته ابهام نلري ،دطبقاتي مبارزې سره کرښه يې مخ ته ځليږي او دهمدغې مبارزې له معيارونو سره سم يې خپل ژوند او هنر عيار کړی دی. له بلې خوا وروسته تر دغې مرحلې ده چې دلايق شعر لاد پوخوالي خوا ته ځي او دده دشعر خصوصيت وروسته تر دې مرحلې دادی چې

خپل خلف نسل په ځان پسې را کاږي او په ځوانو شاعرانو باندې ژوره اغېزه کوي .دده سبک ،دده الفاظ اودده دشعر مضمون د ورپسې نسل په شعر کې له ورایه ځان ښيي.زیاتره زلمي شاعران دده شعر او شخصیت ته احترام لري او ددوی زیات شمېر یې ځان دده شاګردان بولي.دلایق دژوند په ټوله موده کې داسې شېبه نده راغلې چې دی له حاکمه محافلو سره سوله وکړي،هغوی وستایي اویا حتي سوله ایزي لارې چارې ور سره غوره کړي .دی تل منتقد،جمال ستایونکی او مبارز پاته شوی اوپرله پسې یې خپل شعرته پر انقلابي لاره وده او تکامل ور کړی دی.له همدې کبله ده چې په ډاډ سره ویلای شو یوځلمی او با مسؤلیته نسل چې نن یې قلم په لاس کې دی، که وغواړي یا ونه غواړي دلایق دادبي مکتب پیرو دی ،دهغه په لیکه روان دی او دهغه په سبک شعر وایي. که چېرې ددې لنډې سریزې حوصله تنګه نه وای نو مابه ګڼ شمېر نمونې دلته وړاندې کړې وای .

وروسته ترپورته مرحلې چې موږ یاده کړه دلایق دشعر لیک او لاره څرګنده ده او له همدې کبله ده چې وایي:

«اې زما ملګرو دجنـــــګو
زموږ دسرو سرکشو بیرغـو
اې راویښوونکو دزنګـــو
زموږ دخوارو خلکو دننګو...
...نشته بله هیله بې له جنګه
نشته بله لاره بې له ننګــــــه»

(یادونه او درمندونه) اویا:

توره وباسه له تېکي ، چې ریښتونی یې باور شــــي
ستا په ننګ او په مېړانه ، ستــا په توره اې پښتونــه
هره لاره ورته نیسه ، هـــــره تیږه ورته څـــاره
هر ګودر ورته ګرداب که ، هره ورځ ورته کلونه
شپېږم

باندې ويې شلوه خپتې ، تر بنه ويي باسه ستـــر گي
پې ور ويې ځپه ژامې، پې ورمات يې كه غابنـــونه
(يادونه او درمندونه)

تر هغو چې زه ملگرى لايق ديوه مشر اوديوه ملگري په توگه پېژنم ،دوه ځېرې لري: انقلابي لايق او شاعر لايق اوتر هغو چې زه لايق ديوه ملگري او استاد په دود پېژنم،هم لايق دى اوهم شاعر.

انقلابي لايق تل دخپلو خلكو په خوا كې ،دكارگرانو، بزگرانو او زيار ايستونكو په سنگر كې ديوه وفادار او زړور لار ښوونكې په توگه پاته شوى دى ، هغه دافغانستان دكارگرې طبقې دگوند دغړيتوب شرف او وياړ دگوند دتأ سيس له شېبې نه بيا تر اوسه پورې لرلى او دادى دا نېكمرغي ورپه برخه ده چې پنځلس كاله يې پرته له څه ضعف او سستۍ او پرته له ستومانۍ نه دگوند ټول اوامر منلي او له خپلو خلكو سره يې اوږه په اوږه د استبداد،ارتجاع او استثمار اوهرډول ستم سره مبارزه كړې ده او اوس دنوي پرتمين افغانستان دجوړښت لپاره دافغانستان دخلق د دموكراتيك گوند دمركزي كمېټې،دافغانستان دجمهوري دولت دانقلابي شورا او دوزيرانو دشورا دغړي په حيث په كار لگيا دى.

لايق ديوه انقلابي ملگري په صفت په اصولي برخه كې يو بې گذشته او كلك او كله هم ځيږ ملگرى دى چې دخلكو دگټو په برخه كې په ځان هم نه رحمېږي.

هغه دانسان ټول غرور، ټول شرف، ټول كرامت او عزت ديوه ولس په غرور، ديوه ولس په شرف اوديوه ولس په كرامت او عزت كې ويني او تل يې ديوه انقلابي ملگري په توگه له هرډول ځان ځاني او خودخواهۍ او انساني هوا او هوس سره مبارزه كړې ده .پخپله يې جگه شمله نده وهلې خود ولس او زيار ايستونكو خلكو شمله يې تل لوړه او وياړلې ساتلې ده او تل يې له ځا نه انقلابي تواضع ښوولې ده. او همدا وجه ده چې دهغه انقلابي او هنري شخصيت دبهرنيو شاعرانو اواديبانو او په خارج كې دپښتو ژبې زده كوونكو پام ځان ته ور اړولى دى. او دادى دهغه شعر دهيواد له پولو څخه پورې وتلى او په يو شمېر هيوادونو كې لوستل كېږي، څېړل

اوم

کېږي او تر کره کتنې لاندې نيول کېږي چې دا پخپله زموږ دشاعرانو، زموږ دخلکو او فرهنګي ټولنو لپاره دوياړ او افتخار وړ خبره ده.

خو شاعر لايق بيا د ډېرو رقيقو احساساتو خاوند پاتې شوی دی ،هغه دژوند ډېرو تابلوګانو او رومانونو ژړولی دی. تر هغو چې زه خبر يم داختر مړی يې په دې دليل له ستوني نده تېره شوې چې په زرهاوو زيار ايستونکې ماشومان په هماغې شېبې نهر نهور او وږي ګرزېدل او ده دا وس نه درلود چې ټولو ته ډوډۍ ور کړي.

زه بيا بيا ددې شاهد پاته شوی يم چې کله دوطن له يوه ګوټ نه يو رنځور ملګری راوستل شوی نو لايق يې سخت ځورولی او له خپلو ټولو مشغولاوو سره سره يې درنځور ملګري پوښتنه کړيې ده.

دشاعرانو زړونه ډېر پراخ دي او دا بيخي رښتياده. دلايق زړه دخلکو دمينې کور دی.دلايق په هر شعر کې له خلکوسره، له ډېرو ساده خلکوسره، له کارګرانو،بزګرانو، له شپنو او زيار ايستونکوسره مينه ځېږي وهي. له ماشومانو سره مينه دشاعر يو ځلاند او غوره خصوصيت دی.هيځ ماشوم له هغه سره دنابلدۍ او بيګانګۍ احساس نکوي.

لايق دکارګرانو شاعر دی،دلايق په شعر کې ددغې دوران جوړوونکې طبقې دآزادۍ او دهغې له خوا دتاريخي رسالت دسرته رسولو ډېر پيغامونه شته.لايق دبزګرانو شاعردی،دوطن ددښتو او کروندو په ښکلاهغه سړی پوهېږي چې دلايق په شعر کې ددغه ژوندي او ددښتو دخاوند بزګر ستاينه او لمانځنه ولولي.

لايق دخوارو او په کلونو کلونو لالهاندو اوسرګردانه کوچيانو پرديسانو شاعر دی،دهغو کوچيانو چې پېړۍ پېړۍ دهغوی کډې بار دي او له يوې سيمې نه بلې سيمې ته په سفر لګيا دي.

او لايق ښځه ستايي نه يوائې يې پدې ستايي چې د خلقت يوه باکماله او ظريفه تحفه ده بلکې پدې يې ستايي چې هغه مورده، هغه دبشري نسلونو روزونکې او پالونکې ده، هغه ده چې نړۍ ته ستر او جاوداني شخصيتونه وړاندي کوي.له ښځې سره دزړه خواله کوي او دهغې دمظلو ميت پيغام دټولو انسانانو غوږونو ته رسوي:

اتم

مه مې خندوه نارینه نه یم دخندا
زه یوه ناره یم دغمونو د دنیــــا

او:

زه دژوند جوهر دعشق ډېوه دانسان مور ومه
تا کړمه نانزکه دشیـــــــطان د مشغـــو لا
زه دانسان مور یمه درنـــه یمـه آزاده یــــم
دا دبندګۍ زولنې لـــــري کـړه لـــه مـــا
( ۹۸مخ- دښځې ژړا)

او هم:

« عشق يې دانسان دژوندانه د بقا لاره
غېږ.يې مدرسه دنوابغو د فـکـرونــــو
ښځه یوه نغمه ده دعشقونو دخوبونـو
ایستې ده فطرت د ژوندانه له ربابونو »
( ۵۹-مخ، ښځه )

لایق دهر شاعر په شان په ښکلا باندې مین دی خو هغه هېڅکله له ښکلا نه په ځانګړي ډول دخوند اخیستلو هڅه نکوي، هغه ښکلادټولو لپاره، دخپل ولس لپاره، دخپلو خلکو لپاره پرته له تبعیض او امتیاز نه غواړي.

دلایق په شعر کې هرڅه ښکلي دي، لمر ښکلی ، دښته ښکلې،سین ښکلی، ګل ښکلی، بوټی ښکلی، شګه ښکلې، ځوځ ښکلی، بېدیا ښکلې، چمن ښکلی او بالآخره «چونغر» ښکلی او تردې ټولو پورته دزیار ایستونکې انسان تصویر ښکلی.

او دادی اوس لایق دڅور دپرتمین ژغورنده او ستر انقلاب تر بري وروسته د«یادونو او درمندونو»ښکلې ګېډۍ برا بره کړې او خپلو زیار ایستونکو خلکو او قهرمانو ملګرو ته یې وړاندې کوي. هغه ګېډۍ چې پکې هرڅه شته ، « دڅړو شپو» له یاده نیولې بیا دڅور ترسرو او

انقلابي ورځو پورې.

زه لایق ته دیوه شاګرد او یو کشر ملګري په توګه چې نه یوائې دسیاست په ډګر کې ورسره یم یلکې دفرهنګي کارپه جبهه کې به هم دهغه په خواکې ولاړ یم ، د«یادونو او درمندونو» مبارکي وایم

او هیله من یم چې زموږ دغه انقلابي شاعر په خپلو پیاوړو ادبیاتو او اشعارو کې د ثور د پرتمین انقلاب نه نشت کېدونکی اوښتون او دهغه دنتائجو دسپړېد لو ګلانو یادګارونه راتلونکو نسلونو ته ولیږدوي او هیله لرم چې دشعر دغه ستره مجموعه وکولی شي دانقلاب په را تلونکو بریالیتوبونو کې خپل ستر او عظیم رسالت سرته ورسوي.

ویاړم چې دا مجموعه وروسته دثورتر پرتمین انقلابه چې دافغانستان دخلق د دموکراتیک ګوندپه لار ښوونه اودخلکو دوسله وال پوځ په وسیله او زموږ دګوند دستر مشر نور محمد تره کي په امر سرته رسېدلی دی ، خپرېږي او دا داطلاعاتو او کلتور دوزارت لپاره دافتخار ځای دی چې دوطن دیوه زړور او با احساسه انقلابي شاعر حق وروسته ترډېرو کلو څه ناڅه ور ادا کوي.

ـغوړېدلي دې وي زموږ دنوي شعر سره ګلان.

ـاو تېره دې وي دلایق دشعر ځلانده توره !

امین افغان پور

کابل-۵ر۵ر۱۳۵۷

لسم

## را تلونکو ته

ډېر وګـــړي به زما له مـــرګه وروسته
زما په شعـــر بانـــدې وايي ايرادونه
ښايي ځينې په دې پوه شي چې په خـوله مې
ظالمانو لګــــولـــي وو مهـــرونه
که هر څو فلک ناوړې په ما وکـــړې
ما جګې کـړي دي د خـــلکو آوازونه
ما آسمـــــان د آزادۍ ته لار ايستـله
خوخوني ښکاري مې مات کړل وزرونـه
هره خــــوا چې د رڼـــا په تمه لاړم
خواه شوي وو ډېوو لانـــدې دامـونه
لاس مې جګ که د دردمن د سر ســاتوته
که هر څو يې راځپـــلي وو لاســونه
هر آواز مې د مظـــلوم دسر سپــر شو
هر يو بيت مې د محـــروم د زړګي خونه
زما هـــلو کې به لافخر کړي په ګور کې
و مي نه ليــــکل د سپيــو صفتونه
د حرمـــان په لمبو وسوم خو تېټ نشـوم
ومې نکــــړل مغــرورانو ته عـــذرونه
چې زاړه کې اسيـــر شوي وو له عـــجزه
ما کړل مـات هغه د عرف ځنځيــــرونه

نوی روح مې د پښتـــــو شعـــر ته ورکه
په گــــــلونو کې مې ونغښتــــــل اورونه
تر کلو کلو به خپــــــژي زما له شـــعره
دشهیـــد و تکـــــــلونو فر یـــــا دونه
څــــــو چې ژبه دپښـــــــــتو يي زه به یمه
هېر به نکـــــــــړي پښتـــانه زما لالونه

کابل– ۱۵ر۱ر۱۳۴۱

# وطن ته

بیـــــا په ما راغلي چپـــــاوونه د غمونو
راکه نـــــوئ دمه اې زما ښــــکلې وطنه
وینه مې قـــــربان شه ستا لپـــاره درنګونو
ستر ګې ګـــــلان شه ستــــا د ترو په لمنه
ستـــا په محبت کې مــــلا ونیـــوم په کفر
ګوري زما لپـــــاره په هر ګـــام کې دار او ونه
نور که له تا غـــواړي جنتـــونه د عیشونو
زه به ستـــا لپــــاره سره دوزخ ته شم دننه
ته که بې حاصل یې که جاهل یې که کاهل یې
ستا خپـره که خواره، که سپیره د ه، که پمنه
ماته دجهـــان ترټــــولو ښو ښایسته ته یې
ځوځ دې راته ښـــکاري رنـګینه تر هر سمنه
ماکې که څه شته دي ستا له فیضه راکې شته دي
اې پروردګـــاره زمـــا د روح زما څښتنه
زه دې دتوفـــان په یرغلونو کې راڅـــوی کړم
عشق کې دې پـــاخه کړل زمـا زړه او زما ینه
زما له هر آواز سره پټښې د امیــــــر رپږدي
ځـــکه چې ما جـــګ که دا آواز ستا په بلنه
ته زما ځیـــګر یې زمـا زړه یې زما عشق یې
زه د تـــا آواز، د تا فـــرمان، د تـــا مننه

کابل– ۱۸ر۵ر۱۳۵۱

## خلکو ته

راتېرېږي د زندان له دېوالونو
د زمان د قافلې نوې جرس
هر آواز د آزادۍ چې رارسېږي
زما په ستونې کې قوي شي یو په لس

دون همت په یوه ګوله باندې تسلیم شي
مرد به نشي په ګولۍ له ځایه پس
بې له تېغه بله لار ورسره نشي
چې نه کوردرته پرېږدي او نه جوس

ګوره ګوره چې ګرېوان یې خوشې نکړې
څو دې متې، څو دې لاس وي، څو دې وس
ددې تور زندان قلفونه رېز مرېز کړه
نامردي ده قبلول د دې قفس

په مردۍ او آزادۍ باندې یې تېر کړه
څه که ژوند دې یوه شېبه وي یا نفس
سره یو شئ در واري شم خورو خلکو
د سیلاب مخې ته نه درېږي خس

په وطن چې خپل وطن به خلاصومه
خلکو نلرم په زړه کې بل هوس

کابل، ګذرګاه– ۱ر۳ر۱۳۴۳

## دخودئ یون

دا له مورږه سره څه کوي گردون
داملگری د تیټانو دغه دون
له غروره مې سر کوز نشو فلک ته
څومره لوړ دی دا زما د خودئ یون
دا افسوس دی چې خپل ورور را سره نه ځي
دا جاهل، په ځان ناپوه، دغه جبون
کنې ما به دا تاریخ و اړولی
په تقدیر به مې وهلی و شبخون
که آسمان هر څو څپېړې په مخ راکړې
تسلیم نشو دا زما زلمی جنون
یو زمان به ددې خلکوپه سوک مات شي
هغه سر چې جگ آسمان ته و پرون

کابل – ۲ر۳ر۱۳۴۳

## دپسرلي آواز

بیا له غرونو رارسېږي یــــو آواز
خوځوي په مړاوو بڼو کې پــرواز
دنسیم مطرب په زېږو پاڼو لــوبي
ګرزوي په وچو لښتو کې شهباز
خامخا به بیا په ګلو بهار راشــي
بلبلان به شي چمن کې هــم آواز

## دنجونو مینه

یار به مې پخلاشي زړه وایي ګواهي
کله پاته کېږي په سپین مخ کې سیاهي

چاویلي دا چې ښایسته لوټوي زړونه
کله روا شوې پر ښتو ته تباهي

پرې مې ږده ملا زه د تسپو او نفلو نه یمه
عشق په لېونتوب را باندې وایي ګواهي

یار را اچولې په لاسو کې تورې څڼې
زه یم د خوبانو لاس تړلی سپاهي

ژوند یوه قافله ده د غمونو، د دردونو
یمه د غمونو په ټالونو کې راهي

لامبم هره شپه د خپلو اوښکو په تالاب کې
لېږمه کاروان د فریادونو پګاهي

جار به جنتونه پالنګونه کړم د حورو
یار که چېرې راکړي پخپل غېږ کې پناهي

نه ځي له لایقه عشق د نجونو په توبو
نه ځي له زنګي نه په زمزم کې سیاهي

کابل-۱۲ر۴ر۱۳۴۲

تاسي که يو نشئ اې خــــورو ورو زلميانو
هېڅـــــکله به نشي څوک آزاد او نه آباد
زمـــــوږ نفاق وسله د دښمنانو د بــري ده
يـــــو شئ سره يو شئ چې وطن نش بربـــاد

## ساقي ته

ســـــاقي ما ته سره اورونه را د څښلو
څه د سولو څه د ځـــــان رسوا کولو

هسي اور چې لېـــــونيو سره ښــايي
توفيق را کړي د گـــــرېوان دڅيـــرولو

په مستۍ کې را نه حـــزم د سر واخله
مجـــال را کړه د خپـــل ځان فدا کولو

ستا د شونډو له گرمۍ نه قربـاني شم
ستاله اوره، ستاله شوره ستاله سولو

څومره څومره چې سوځېږم نه مړ ېږم
څه قـــدرت لرم د ځــــان رسوا کولو

له ځيگـــره مې د وينو فـــوارې ځي
چې مشغـــــول يم د وطن په يادولو

کابل ٦ر۴ر١٣۴٣

## دا وطن به ښکلی شي

داتیـــــاره به تړوله شي له غــــــرونونه رڼا به شي
دا آسمـــــان به پاک شي له وریځـونه پخلا به شي
دا د ځو لیـــــوانو او خو ګـــــانو دوحشت شپه به
تېره شي له ستر ګــو په یوه رپ کې الونیا به شي
دا دسویـــــو چیغـــــو دتیـــــري او د ستم سیمه
مېنه د وروری، اوآزادی، او دصفــــــا به شي
دا وطن به ښکلی شي، سمسوربه شي، آبادبه شي
پېټ به په ګلونوشي، ښایست ددې دنیا به شـــــي

کابل …………

## آزا د پروا ز

گــــــرزم لېــــوني غونـــدې رغونه لټومه
ځنهـــو د جانـــــا ن ته څو گـــــلونه لټومه

او ښکې مې له سر گو په گرېوان دا خوشي نه ځي
غــــاړې د دلبــــــر ته ا مېــــلونه لټومه

زه د ښايسه وو د جــــــلوې پروا گيــر نه يم
دې بېـــــــدرده زړه ته څـــو دردونه لټومه

وايي په دې سيمه د کــــــاروان اورونه بل وو
زه يې په ايـــــرو کې اثـــــــــرونه لټومه

زه انقـــــــلابي يمه ريبـــــا ره يـــــا رته وايه
ستا په نظـــــرو کې گـــــــردشونه لټومه

مـــا د زمرو غـــږ.و په دې غرو کې اورېدلی
گـــــرزم په هغـــــو پسې او غــــــرونه لټومه

چېرې هغه ورځ چې به آسمان له غوسې تور شي
يـــوه آزاد پـــــروا ز ته توفـــــانونه لټومه

کابل– ۴ر۴ر۱۳۴۲

## ګونګ شوي فریادونه

څه ګونګ شوي د پیــــړیو ارمانونه
دمړو ورته افغـــانانو په رګوکې
چې په هو به یې دننګ رغلي تاوده وو
اوس یې نشته بې له مـرګه په ایرو کې

## انساني چیغه

که هرڅو زما ځواني ده سړه شـــوې
زه لا اوس هم لېـوني او ارمـــاني یم
په لاسو کې مې کړئ شورو فغان کړي
دڅه خـامو ځنځیـرونو زنــداني یم
په توفـــان مې وېـروي او نه پوهېږي
چې زه مخـکې له توفانه توفـــاني یم
خوله به پټه هرګز نکړم که حـلال شم
زه د خلـــــکو یوه چیغه انساني یم
ما له مــرګه ویروي او خنـــــدا را شي
چې څه وېره به کـــوم چې قربـاني یم
دی زاړه برجـــونه غواړي په ماتم کړي
زه یوه نښه دبرجـــو دویـــراني یم
له ما هیـــــله دزړو حوصلو مه کړئ
زه څپـــو په سر اخیستی سیـلاني یم

کابل ـ ۱۶ر۷ ۱۳۴۴

## دمبارزې سر

کوز نشو ظالم ته په هیڅ توګه زما ســــــر
هر څومره که ګرم په وهو شو ستمـــــــــګر
زه په جنګ آخور کې دچا نه خورمه وربشې
نه دچا خر کېږم دبارو نو نه کــــــــــچر
زه که دچا خر شمه پښتو به شرمنده شــــې
ناړې به را تو کړي په سپین مخ باندې هنـــر

کابل ..............

بیا را ژوندی شوی په وطن کې استبداد
بیا چاړه سره شوې د ه په وینو د جـــلاد
پورته کړئ زلمیانو شور دخلکو دیووالې
جګه کړئ ناره په غـــرو رغو کې د جهاد

## زموږ وطن به آزاد شي

هر آواز چې پورته زما له خولې شو په مستۍ کې
خوله را بانـــدې ماته محتسب کـړه په وهلو
دا د حـــق آواز دی چې نه مـري نه غلی کېږي
کړي دې زاهـــدان تکل د ځـــان د شرمولو
نه ځي له رنـــدانو شـــــور دمینې په توبو
غـــلي مستي نشوه په منصـــور کې له وژلو
سم شو پرون بیــا دشور بــازار ملا په کلیو
ستړې شوله خـــوله مې دلا حـــول په ویلو
دا د انـــګریز سپی به له دې خلکو نه تم نشي
ځو چې یې یو غاښ وي لا په خوله کې د چیرلو
ما دی دړولی په غیـــرت پرچم د خـــلکو
زړه مې دی نیـــولی هر لړم ته د چیچـــلو
باد دآزادۍ به د پرچم وزرونه خـلاص کړي
خلـــک به ژو نـدي شي دهغه په رپیـــدلو
خور به شي هیبت زمـــوږ دچیغو په وطن کې
مات به ځنځیـــرونه شي له مټـو او څنګلو
دا وطن به ښکلی شي ،آزادبه شي، آبـادبه شي
خـــلاص به سي دشیخ او دشیطان له ځورولو

کابل-۱۳ر ۶ ر ۱۳۵۱

## د اغزیو لار

نه وزي له خـــولې نه مې بې ســـاهه ترانه
شـــرم د ســـاقي دی بې شـــرابو پیمانه
زه په دې تیـــارې کې یوې رڼا ته منتظـر وم
اوس به یـــاران و گـــوري مستي د دیوانه
لار د یـار د وصل په گــــــلانو پټه نه ده
اخـــلي په اغـــزو کې آزمـــوینه زمانه
جار شمه ،قربان شم سره یو شئ خورو خلکو
نه دی په وجـــود کې هیڅ یو غـــړی بیـــگا نه
نشته ځـــان ځاني کې مصلحت دلامبـــوزنو
سپـــل دحـــوادثو هسي غـــواړي بهانه

کابل ......

## زما انتخاب

ما له دې نړۍ نه انتخـــاب که عشق د ښـــکلو
شرم دی بلبـــــل ته چې مین نه وي په گـــــلو
زه په هـــــر ذره کې د جانان تجـــــلي وینم
ځـــکه یو شان ځیر یم سپین او تورته په کتـــلو
دا دژوندون دروی هسې نه دی چې گونگی شي
بوخت دی زاهـــد د خپــــل آبرو په خرخـــولو

## دخلکو غیرت

نه به شي له تــګ د استبـــــداده سره سم
نه غیـــرت دخـــــلکو، نه زما لېـــونی غم
سر خــــو هغه سر وي چې پې وار د تیـر.و نه وي
زړه خو هغه زړه وي چې وریت شوی وي په غم
مور. به دغه خپـــــله دنیـــا ګي بله دنیـــا کړو
مـــات به شي دې لـــوبه کې ســـرونه د ستم
هیڅـــــکله د خلـــکو دښمنان تم کوی نشي
نه جـــا دو دشیـــخ نه ګــــوزارونه درستم
زه دهغې خـــــاوري نذ ر شوی قـــــرباني یم
یوه خـــوایې آمـــــودی بله پوله یې جېــــــلم
نه ځي افغـــــا نا ن له نامحـــــــرم سره په لاره
رزم او بـــــزم نشي دمحـــــرم او نامحـــــــرم

کابل ۱۳ر۶ر۱۳۵۱

## د لمر جونګړه

اې دوړانـــــګو لورې دا تیاره لاره رڼا کړه
اې د سپېد و خورې دغه توره شپه سبا کړه
زما په سړه وینه کې داور ګـــرمي خوره کړه
ما ته ننه زړه کې یوه د لمر جـــونګړه را کړه

## دڅڼو جال

په چمن کې چې دې پرق د خندا خور شي
زما دزړه په کور کې گـډ د هيلو شور شي
چې دمخ ته ځومره گـورم هومره سوځم
ما بد مـــــر غ ته دې دوصـــل اوبه اور شي
په يوه موســــــــکا دې عقل رانه يو ووړ
خـدازده څه به لا په ما بېچــــــاره نور شي
لېــــــوني په ځنځيـــرو کې فـــريادي شي
چې په مخ باندې دې جال دڅڼو خپور شي

کابل ۵ر۳ر۱۳۴۴

## نوی یون

تاریـــخ څه دی ؟ یو آواز دی
ازمـــویي زموږ غـــــوږونه
دکـــــوي زموږ جـــــامونه
تشوي زمـــــوږ عقـــــلونه
ته یوه خپـــله نغمه سر کـــړه
اې ددغه زمـــــــان یونه
اې ددغه وخت مـــــــلالې
اې د دې مهـــــــال مجنونه
اې زمـــــریه، اې پښتـــــونه

کابل ۷ر۱۲ر۱۳۴۴

## د زمان څرخ

څـــــرخی د زمــــــان گـرزي احمقان ورته اړم دي
دا نـــــا ورسره ځغــــلي ، هرقدم کې په مخ لوېږي
يو بـــاسي د زمـــــان په توفـــــانو کې د ژوند لاره
بل سپـــــور دده په څټ په پټــــو ستر گو پې تېرېږي
دنيا توره تيــــــا ره ده دتيــــــارو کسا نو لاس کې
ډېوې يې هغه څوک دي چې سوځېږي ويلي کېږي
هر بـــــــا غ فتنه دعقل ، هرچمن آفت د فـــــکر
هر څنه د سنبـــــــل حلقه د دام ده چه غــــوړېږي
هر شــــرنګ، هره نغمه ، هره سنـــــدره، هره لوبه
ځګروي دي او سېلي دي يا سلګۍ دي چې خورېږي
بر ېښنـــــا يې غاښ چيچنې د غمـــــونو د باران دي
باران يې دغم او ښـــکې دي په ژوند باندې اورېږي
دغرب ښـــکلي ګلان يې دمشرق په وينو رنګ دي
د شرق ساده بلبـــــل يې بويوي تر ښه تــــــاوېږي
پيـــــړۍ لـــــکه بېړۍ چې درنه شوي يې بې حده
زموږ د ژونـــــد له مال سره م جهـــول پلو خوځېږي
کـــــــږه وږه روانه ده ،موجــــونه يې وردا نــــګي
بې درده مـــــــانو ګان نه پې پروا کـــړي نه وېرېږي
اې عقله له مغــــــرور انسان نه وکــــړه دا پوښتنه
دا ستـــا کـارږه مزلـــــونه عاقبت چېرې رسېږي ؟

کابل ۳ر۳ر۱۳۴۲

## د اميد زرينې وړانگې

تورې وريځې کـوړه کـوړه پلنې پلنې
ترې وتلې دلـــمر ژيـړې ژيـړې ستنې
د بهـــار دزړه لـــو گې کې ماته برېښې
دامېـــد زرينې وړانـــگې سرې بخونې
آسمـــاني برېښنا به وخـــاندي بېد ياته
که هر څو دورېځـــو ستر گې دي ژړنې
لمر به خـــور شي دشپـــو په تيارو تالو
په گـــلونو به شي پټې لـــوڅې ونې
اغزن غرونه، وچ لاشونه ،سپېرې دښتې
سم جنت به شي له څـــــوکو تر لمنې
نا اميــــد بزگر به وخــــاندي بېوا که
نا څــــاپي به ټولې پولې شي چـــکنې
خو په ډېر افسوس به بولي ځواني پيغلې
زما دژوـــند ترخې سندرې دا غمجنې

کابل ۱۵رر۱۳۴۱

## د ژوند قصه

ژوند دهځو د رز مونو يوه قـــــصه ده
د مرديو نامرديو په غوغـــــا کـــــې
گوره گوره چې فرصت درنه لاړ نشـي
تش دخبتې او دخوټې پـه سو دا کـــې

## زمان تښتي

ما نه هسي بېوفا ګلرخان تښتي
چې له زړه دمحتضر نه ارمان تښتي

ګوره هومره افتاده او زبون نشې
چې له لاسه دې اختيار دخپل ځان تښتي

دآسمان په مټ کې توان د وهو نه و
د برېښنا خنجر ته ګوره عريان تښتي

ته لا کومې زماني ته منتظر يې
زه يې وينم ورځې خوځي زمان تښتي

څوچې ته دا ليمڅي کوڅو اوباسې
زما له زړه دفر يادونو توفان تښتي

په اسره به مطلوب در نشي په ګوتو
ور پسې شه چې راغلی امکان تښتي

څوک به يوه اوښکه په ما او تا توی نکړي
خلک لاروهي په بېړه جهان تښتي

تر ګوزار دې قربانې شم لېږ. چټک شه
چې دنښې له ساحې نه لېوان تښتي

کابل ۱۵ر۱ر۱۳۴۱

## اغزي او ګلونه

پر پرده پر پرده چې ببـــر شي ، لا ببـــر شـي
دا رنـــګین رنګین ګـــــلونه د بستـــا ن
لمـــــر او تنده به د سختـــو نر معلوم کړي
چې اغـــــزي دسارا مـــري او که ګـلان

## کمزورې رڼا

دتیاره ژونـــدون په لار کې زموږ د مخه
یوه ضعیفه ډیـــوه ګۍ سوځـي بلیـږي

لاره ورو وهئ ملــــــګرو بـاور نشته
دا رڼـــا په او ســـیلي بانـــدې ټپیږي

زه یې وینـــم چې د هر قـــــدم له زوره
لـــــکه پاڼه د نسیم مـــــخ ته رپیږي

په هر ګـــــام کې دشیطان دامـــو نه یښي
هر لاروي ته خـــــــروړي سپي غپیږي

زه به وو ایم دژو نـــــد خـوږې سندري
خیـــــر که ژامي مې متـــــبږي یا ځبیږي

ترهغو به دادمیني بلبل ساتم
څو دردونه دانسان په کې چغېږي

پروانشته که دالار توره تیاره ده
ماته کاني بوتي حال وایي غږېږي

کومه نښه چې منزل ته لوری ښیي
ماته لمر غوندې رڼا کړي او ځلېږي

اې زما دزړه تنها کو په چودو شئ
عمر لنډ لکه برېښنا دی او تېرېږي

کابل ۲۸ر۱۱ر۱۳۴۱

## حرکت

نغښتي حرکت کې فطرت لوی لوی قوتونه دي
ځکه هم مــکان او هم زمـــان په خوځېدو دی

ته لا تر شړی لانـــدې ویده په درانه خــوب یې
ستوروته یورپ کې بل انسان په خوځېــدو دی

ته د سېـــلاب لار کې پنډوې وزې او مېږي
زه وینـــم په غونو کې باران په خوځېـدو دی

څومـــره افسوس را شي چې تا وینمه ویــده یې
بلې خواته ګورم درست جهان په خوځېدو دی

وباسه بېـــړی خپـــله ساحل ته چې زه وینـــم
بحــــر قهرجن دی او توفـــان په خوځېدو دی

جګ شه ، را بیدار شه هسي نه چې پکې دل شې
ځمکه که او به دي، که آسمان په خوځېدو دی

زه دبلبـــــلانو او ګـــــــلانو شــــاعر نه یمه
ماسره دشپو ورځو کـــاروان په خوځېدو دی

دانړی به مسته د شــــــرابو په نغمــــــو کمه
دومــره که تسل شم چې افغان په خوځېدو دی

کابل ۷ر۹ر۱۳۴۲

## دپیرېو په بټۍ کې

سر دې پورته کړه له خـــوبه اوبو یوووړې
دتاریـــخ د تاړا کـــــــونو څپو یوووړې
پولاد نه شوې دپیـــــــړیو په بټۍ کې
لکه ځــــوځ داز موینو لمبو یـــوووړې

## زه به ترڅو ژاړم

ناست یې ته سبــا ته او زه وینـــم سبــا درومي
گـــــورې زمـــانې ته او زه وینم چې دا درومي

پرانیزه کو گـــــل دې چې زه بلې لمبې در کړم
زه اوس ایرې کیــــږم دا او رونه لـه مـــا درومي

مه ځه هغې خــــــوا ته چې دلارې اورى نشته
سم شه هغې خــــوا ته چې دا ټوله دنیـــا درومي

عمــــر خو همـــدادى چې تېرېږي نه را گـــرزي
وخوځه که خوځې لــــکه ځل دبرېښنا درومي

زه به تر څـــــو ژاړم ستا په سر ته به ویــــــده یې
او ښکې که دریاب شي هم وچېږي او یا درومي

کابل ۱۲ر۱۱ر۱۳۴۲

## دوینولار

ته دعشق په کارو بار کې فریادي شـــوې
څوک چې لوبه دمجنون کړي فریاد نه کا
چې دوینو په لار ځي او نــــــه درېــــږي
بیا دې هر خس و خاشاک ته بېداد نه کـــا

## دا د ځمکو غل

زړه مې له مـــــکیز دهر دلبـــــــره سره نه ځي
پښې مې د دوران له هـــــــر بې سره سره نه ځي

زما بت شکن متې چې گوزارونه د رستم کړي
هیڅکله په جنـــګ له بې ځیـــگره سره نه ځي

دا زخمي وطن چې دمـــزدور په وینو رنګ دی
نــــــور په دغه لار له ستمـــــگره سره نه ځي

نشته د کـــــــارگر له دې نظـــامه سره سوله
دا سپینه کـــــــــوتره له اژدره ســــره نه ځي

څټ دسرمــــــایې ته دپولاد و څټـــک بویه
دا لېــــــوه په روغه له کارگـــــره سره نه ځي

دا دځمـــــــکو غل، داخپتور ، دغه دکلي خان
لاره دوروری با نـــــدې بزگـــره سره نه ځي

لید يې نېکمرغي دخوارو خلکو زغمای نشي
عقـــــل يې په خـــــــير له بشره سره نه ځي

دا خلـــــک نور پل له استثــماره سره نه ږدي
دا وطن يو گـــــام له دې بر بـــره سره نه ځي

## د عشق سندرې

مینې مجنـــــون کړم بيـــا باني شوم
ديـــــا ر له ذوقه هسي فـــــا ني شوم
ر گ ر گ مې وايي دعشق سنــــدري
لـــه دغه فيضه جـــــــاوداني شـــوم

## زما تندی

چې را خوشې کـــړي آسمان کومه ډبره
په تنـــدي مې را گـــــوزار شي نا ببره
لا زمـــا په سر جنگۍ بانــدې شکمن دی
څه احمق دی دا فلــــک دا نا خبـــــره
دزړه تــــاو به مې هېڅـــــکله بهر نشي
که له غره ســـره ونه وهـــم کـــــکره
که به يوه شېبه پې خوښ يم مـــرد به نه يم
دژونـــــدون په کــاروبار بې شوروشره
«له سپوږمــو نه يې لا شنه لوخړه خېژي»
چا چې مـــــوږ سره وهـــلې ده ډغـــره
د سېلاب تر مستي جار شم چې وردانگې
دهــدف په لـــور په لــــــوړه او ژوره

۱۷ر۵ر۱۳۴٦

## زما شعر

اې زمـــا غیـــــرتي شعره که ته نه وای
مابه چـــا سره ژړل دا خپـــــل غمونه

که تا لاره دمـــــــردئ نه وی ښـــو ولې
ما به څـــــرنګه پالل د زمـــــــرو پلونه

خـــدازده څه به په ما کړل دې خپلو هیلو
مابه چـــا ته لوڅـــول خپـــل ارمانونه

په کـــــوم ساز به مې دزړه نغمه وهـــله
کـــوم رباب به جـــــګول زما غږونه

کومې هیلې کوم ارمان ته به ژوندی وم
څنګه څنګه به مې وړل دغـــــم بارونه

چابه کشله دمظـــــلوم په ننګ کې توره
چابه کـــــړل په ظالمانو ګـــــوزارونه

چا به وې ساده بزګـر ته چې راویښ شه
ستا په وینـــو رنګینه دارېـــاب خونه

سخت سفر به مې په څه آســـانېدی شو
نیغي لارې، ښویي پرښي، ګـــړنګونه

تنهـــايي او تيـــارې شپې ددښمن وېره
بې وسي او ځـــــوروونکې منزلــونه

چا به وې دغه مختورا سمان دې بل شي
ترې دې و اوري دوینـــــو بارانـــونه

چا به وې سپېره وطن دې ګلستـا ن شي
پې خـــــواره دې شي ببر ببر ګـــلونه

د وورو ویــــده برېښنا به چـــا لید له
چې سبـــا به ترې کــــوزېږي تندرونه

چا لیـــدی شوي دزمـان ساده افق کې
سوروطن، سورمستقبل،سره هدفونه

کابل ۱۵ر۲ر۱۳۴۲

## نوی عاشق

نجـــــونو ما پرېږدئ چې رسوا کـــېږم
نوی عــــــاشق يم بې حيـــا کېــــــږم
ما له دې ګـــــرمو شـــونډو نه ســا تئ
له واکـــــــه وزم بې پروا کېــــــــږم

## جوالي ته

زړه مې راته وايي چې تپـوس وکــړم
ښــګه دي دونــد بارونه ښنګه دي؟

ته چې کــرئ ورځ دا جوالونه وړې
ښنګه دي، دمـــلا دردونه ښنګه دي

زړه چې دې له لـوړې نه ښـوا که شي
بیـــا د پیـــلاوو بویونه ښنـــګه دي؟

شپې چې ورې پرېوزې په لانده غولي
دا د بد مرغۍ خـوبونه ښنـــګه دي

بیـا چې دې مـــاشوم له تبې وژاړي
دا دغم او رنـــځ سازونه ښنـــګه دي

ته چې یې دې ژوند ته مجبور کړی یې
بیا ددې نظام خـــوندونه ښنـګه دي

کابل ۵ر۸ر۱۳۴۳

## اسیر انسان

زمان دریاب دی، جهـان ګرداب دی
مینـه ښپـه ده، هجـــــر تـالاب دی
د دې پیـــا وړو په هـــای وهـوکې
انسان اسیر دی، ضعیف حبــاب دي

## ښځه

څوک ده دا ښېـــــا که چې وهي لاره دزړونو
اخلي د مـــــخ آب په تـــــازګۍ کې له ګلونو

موج يې د ويښتـانو خپـــروي بر ښښنا د تورې
ول يې دپېـــــکي کړۍ په پښو کې د عقـــلونو

عطر د کـــــــا کل يې دشـــاعر دژوند سنـــدره
شور يې دبنـــــــــګړو دلېـــونو د فريـــــا دونو

او ښـــــکې يې په ستر ګو کې غمې د مرغـــلرو
شونډې يې خنداکې سرې سکروټې دلالونو

رنګ يې دچشمانو د آسما ن لاجبـــري خونه
شـــــور يې په سينه کې د کيهـــــــان د پروازونـــو

چم يې په جــــــــلوه کې دهوسيـــــو درغونو
سام يې په نظر کې لــــــکه باز دلـــــوړو غرونو

عشق يې دانســــــــان دژونــــــدانه د بقــــا لاره
غېـــــــبر يې مــدرسه دنوابغو دفـــــــــــکرونو

ښځه يوه نغمه ده دعشقـــــــــونو دخـــــوبونو
ايستې ده فطـــــرت دژونـــــــدانه له ربـــــابونو

کابل ۱ر۷ر۱۳۴۳

## دعشق زور

نن مې کو ګل کې بیا شور ماشـــور دی
د زړه بلبـــــل مې ســــوی په اور دی
رګ رګ مې خوځي وجود مې سوځي
عشقه نور بس که معــــلوم دې زور دی

## فریادي نفس

که هر څـــو ترخه رازونه زړه کې ساتم
د کــــــام مینه راته وايي وایه وایه
ډېر دردونه مې دزړه په کور کې پټ کړه
اوس نو ســـــوځي راته وايي ښایه ښایه
که هر څو يي خـوله را ماته کړه په سو کو
فریـــــادي نفس مې حـــال ښيي له ورایه
که مي ګـــوته مستبـد ته کـــــږه نشوه
تیـــــز نظر به مې خطـــــا نشي له ځـایه
زه په ستر ګـــو کې حـال وایمه تېزبین ته
په ښـــو کې ولس ته ښــــایم خپـله رایه

کابل ۲۲ر۱۱ر۱۳۴۱

## زما شپه او ورځ

یـــــارانو گـــــورئ مینه مې سوځي
ســـاز دغمـــو مې رگـو کې خوځي
خلـــــك په شپه کې یوائحــــي ژاړي
زه په شپه ژاړم ، سوځــــــم دورځي

## درزمونو پر لور

په زړه کې مې له درده فــــریادونه نه ځـــــاییږي
ځان اچـــــوم څپوته نور صبـــرونه نه ځـــا ییږي

زموږ سینې دظـــــلم په خنجـــر سورې سورې دي
په دې زخمي سینـــو کې نور زخمـــونه نه ځا ییږي

لښتي دخپـــــلو اوښـــکو به بحـــرونو ته ور سم کړو
په غبـــــړه دلښتي کې توفــــــانونه نه ځـا ییږي

په سرو لمبـــو کې لامبي دویتنـــام غښتـــلي خلك
دوینـــو په تالاب کې خو خــــــوبونه نه ځل ییږي

مـــــزدوره مـــاتوه یې، سوځـــــوه یې، ورکـوه یې
په پښـــو دآزادۍ کې ځنځیـــــرونه نه ځـا ییږي

داڅو ك وایي چې دام دی،تور تلك دی او کړۍ دي؟
په اور دانقــــــلاب کې تور دامـــــونه نه ځا ییږي

ور دانـــــگئ په زړه دنیا بې مــــزده مــــزدورانو
دې کــــــار کې نور بې ځا یه تد بیـــرونه نه ځاییږي

زړه دنیـــــا کړئ ورانه، دا زړې کـــــکري ماتي
په دې زړو ماغـــزو کې نهضتــــــونه نه ځا ییږي

گـــــر یوان ته یې لاس وړه چې دا څښتن داسیـــــرانو
وسله په ځمـــــکه ږدي نور تینـــگارونه نه ځا ییږي

په زړه کې مې خوځیـــږي دجگــــــــړو دریابونه
سینه کې خوملـــــــگرو دریا بونه نه ځــــــا ییږي

اخیستی یم په مخه د رزمــــــــونو هـــــوسونو
لار باسیه سنــــــگر ته هــــــوسونه نه ځاییږي

لامخـــــکې دلایق زړه د وطن په مینه ســـــوی
دده په زردشت زړه کې نــــور اورونه نه ځـا ییږي

کابل ۱۱ر۲ر۱۳۵۵

## د بوسي سوال

مســکه شوله، ورانه شوه، په شارانه روانه شوه
نه یم پوهېـــدلی چې په څه رانه ستــومــانه شوه

چــــا سره چې نه پیـــږي په ژبه عـــاشقي کوي
مینه دې ناکــــــامه، تلوسه دې لالهــــانه شوه

ما ویل نجلۍ یې؟ ښاپیرۍ یې؟ که ملــــــکه یې؟
دې په خندا وې «نې پني مايو»[1] خـــرامانه شوه

اې دقفقاز حـــورو زه له لرې نه راغــــــلی یم
یوه مساپرې ده بل ځانـــگړې راته گـــرانه شوه

یـــو واري مې وکه په تفلیس کې د بوسې سوال
شونـــــډوته لانه وه رسېــــدلې پښېمـــانه شوه

زه څه پوهېـــدم چې ښاپیرو کې به مې کلی شي
مینه مې سپېـــره د پـــلار کـــوډله مې ویرانه شوه

تفلیس- گرجستان۱۷ر۷ر۱۹۶۴م

---

( ۱ ) روسي جمله ده ، معنا یې داده : « نه پوهېږم»

## دجنګ سنګر

د دنیـــــا په زړه خونه ته ګـــــډ شوی نوی شوریې
دزاړه نظام په کـــور کې لـــــګېدلی نوی شوریې
ته مضمون یې،ته ژوندونیې،ته سمون یې، ته قانون یې
ته هـــــادي دنهضتویې، اې کار ګــــره ته لا نور یې
په زړه دنیـــــا وردانګه تر ګــــوزار دې قـرباني شم
تر ګــــوزار دقرباني شم، ته دنوي جهـــان موریې
دبورژوا دا ګــــردئ خېټه نه مــړېږي نه ډکـېږي
داله خـاورو کـه ورډکه ته یې مرګ یې ته یې روریې
ته توفـــان یې، ته سېلاب یې، ته هادي دا نقـلاب یې
ته د دغه جنـــګ سنګر یې، ته د دغو هیـــلو کوریې

۱۱ر۲ر۱۳۵۱

## د رسوایي شوق

هومره مې مست کــړه چې بې پروا شـم
ساقي همت کــړه ګـــوندې رسواشم
کاشـکې مستي مې له پښو خلاص کړي
د یار محفل ته په ستر ګـــــو پښو را شم

## زموږ ژوند

دا ژونــدون څه دی ،دخوب لیـده دي
چې را بیـــدارشوم،جوگه د دارشوم
دیوه بیـــداره فریاد په جـــــــرم
دهر نـــــاولي د سترگـــو خار شوم

## دمینې نا کردې

را یادېږي بیا دمینې نا کردې
گېر چاپېره رانه تاو دي سرې لمبې
په سپېږو خبرو څه کېږي ز ا هد ه
ماته مه کړه دا بې خونده دا سړې
که هر څو یې پا کوم چاره یې نشي
له لېمو مې را رواني دي چینې
یار که هر څه په ما کاندي واک یې خپل دی
بیا به نه کوم رقیب ته دا گلې

## که حسن نه وای

که حسن نه وای مضمـــون به څه و
که مینه نه ای ژو نـــــدون به څه و
که دغمــــونو تجـــــلي نه وای
زمـــا دمستیو جنـــون به څه و

## مرور یا ر ته

راځه پخلا شو مــــــرور یـــــاره
مر گ به په خپله جلا کـــــــړي لاره
دوه ورځي روند دی راځه چې هېر کړو
ترخه یــــــادونه دغــــم ناتـــاره

## د توفان بچی

څه له مې را بـــولئ سیل دګـــلو ته
زه خو چېـــري نه یم دسلطـــن بچی
ما دتوفـــــانو څپــــــو ته واچوئ
غواړي توفـــــانونه دتوفـــان بچی
تالنـده چې غږ کړي دی مستي کوي
دا دتږمیـــــــو دـــــــباران بچی
نشي په قفس کې پاتېــــــدی نشي
دغه الـــــــوتونکی دآسمـــان بچی
شرنګ دزولنـــــو دژوند سنـدره ده
نازي په ځنځیـــــر کې دزندان بچی
سر به یې کــــوز نشي سر کشانو ته
ځـان ته که څوک وایي د افغان بچی

پلخمري ۱۹ر٦ر۱۳۴۴

## خوني سترګې

په خوني سترګـــو دې وخـــوړلم چور
ته دلبـــر يې، که قــــاتل يې، که تور بور

هر خنـــدی دې زما له عمره سره رنـــځ شو
خــــال دشونـــډو دې دسوي زړه ناصور

ته مې وينـــــــي تويوه پـــروا يې مه کړه
زه پيــــــدا يم له ازله هسي ســــــور

چې نه سوی وي او نه داغ وي عاشق نه دی
هر ســــرباز به يو نشان لــــري ضرور

ما په خوب کې مچــــــولې پښيمان شوم
عـــــاشقي له سړي يوسي سم شعـــور

بې له عشقه ژوندون خوشي څو سلګي دي
يا يوه لـــوبه چې نه رنـــــګ لري نه نور

څو مــــره پراخ دی دود او دين دعـــاشقانو
ورته يو دی که ګــــلزار دی که تنـــور

زه به سر له خپـــله ياره قـــرباني کړم
پرې به نه ږدم خپــــــلې مينې کې قصور

کابل ۱۸ر۴ر۱۳۵۱

## انقلاب را روان دی

را روان به مـــــوج خون شي زه پوهېږم
حا کمــــــان به سر نګون شي زه پوهېږم

د وطن دهـــــــرې لوټې په خـــــــاطر به
هر زلمی لکه مجنـــــــون شي زه پوهېږم

کوم ارمان چې دمزدور په زړه کې خوځي
په وطن کې به قـــــــانون شي زه پوهېږم

سل فرهاـــــــده یې په هر کـــــانې اخته دي
دا وطن به بېستــــــــون شي زه پوهېږم

ماتې او ښـــــکې به په ستر ګو د مجنون کې
تــــــالابونه دجیحـــــون شي زه پوهېږم

دا د نن ورځې زمئړی چې مور ته ګواښي
پمن سپی به دپـــــــــرون شي زه پوهېږم

اوس ویده بــــــازان په غرو کې راویښېږي
تسـلي به مې جنـــــــون شي زه پوهېږم

داچې زه یې ستــــــومان کړی د تیارو یم
دغه شپه به سبــــــــاوون شي زه پوهېږم

لمر به خـــــور شي دشپنو په تـــارو تالو
بر یامی به زمـــــــور یون شي زه پوهېږم

دا دخـــان له لاسه وران او ویجـاړ کلی
د زیلر کښو به کمـــــون شي زه پوهېږم

دا وطن چې ستمـــــــگرو تحقیر کړی
انقـــــلاب به یې مضمون شي زه وهېږم

کابل ۱۸ر۴ر۱۳۵۱

## گرداب

دچا او ښــــکې، دچاآه، دچا خوناب دی
راروا ن مې په خبــــــرو کې سېلا ب دي
په مـــوجو یې لنـــــگر مه ژده بې خبره
گـــوره پام که دا ساحل نه دی گـرداب دی

## غزل

ځو مره لوی عذاب دی دعشق او رته زړه نیول
اور ته زړه نیــــول اورقیبـــــانو ته خنـــدل
هر چېـرې چې جگه کړي خوبان نـاره دستي
ندی دود دعشق د خپـــــلي وینې سپمــول
نه اخـــلم په عشق کې زه له چا کسات دسولو
نه ځي له جامـــــو وینې دبل په وینـــــو ولل
زه یې دغمـــــونو په اورونو کې لا هـــو کړم
ځکه مې تمـــامه شپه په او ښــــکو کې لمبل
زما زړه دغمـــــونو یو نا پـــای آتشفشان دی
نه یې شته بل کار بې له اورونو غــــــور ځول
زه به له دې اوره خپل داو ښکو امیل جار کم
نلـــــرم افسوس دی له دې پـــــورته بل بدل

کابل ۳ر۹ر۱۳۵۱

## پر غلو شاهدان

دامـــــوتړي، داباغــــونه، داقصرونه
داپه وینـــــــو آباد شوي تعمیـــــرونه
دابه وسپړي یوه ورځ دخلکومخکي
دچا غـــلا، دچاتېـــری، دچاظلمونه

## د اوښکو سېلاب

عشق په لېونتوب کې واک دسر را ثخه یو ووړ
زړه مې په گـــردش کې یوه نظر راثخه یو ووړ

زهـــــد مې سپـــــر که د هـوسیو هوسوته
چا د ستر گو جنـګ کې دا سپر راثخه یو ووړ

صبر مې پالنګ کړ دهجران په اوږدو شپـــو کې
اوښکو په سېلاب کې دا بستر را ثخه یـــو ووړ

ماوې دزړه ور به ښایسته وو ته خلاص نکـــړم
نجـونو په مستۍ کې دزړه ور راثخه یـــو ووړ

زه آزاد مــــارغه په لـــوړو غـــرو به الوتمه
غېشو دبڼـــو یې بـــال او پر را ثخه یو ووړ

غزني .......

## لندنۍ ټوپۍ

موږ وې دلته دې سو کال وطن ودان شي
دپېړيو خارستان دې ګلستان شي

ټول کامونه دې ګلان ددې بستان وي
دا وطن دې سم آزاد افغانستان شي

ولس دې خلاص شي د فرنګ له چاکرانو
دانګرېز صوبه دې بیا پښتونستان شي

لندني ټوپۍ په سر پنجابي راغی
وې دا سیمه باید ټوله پاکستان شي

دا یوه ووږ دی دلندن تغییر به نشي
باید لري له نقشې افغانستان شي

ټول افغان ملت په یوه ژبه ناري کړې
دا محال ده مګر ټول جهان ویران شي

## د ښځې ژړا

مه مې خندوه نارینه نه یم د خندا
زه یوه ناره یم دغمونو د دنیا

ستا په زندانو کې مې پېړۍ پېړۍ ژړلي
نشته راکې توان نور دغمونو د ژړا

زه دژوند جوهر، دعشق ډیوه، دانسان مور ومه
تا کړمه نانزکه د شیطان د مشغولا

کله دې اسیره دځنځیرو کړم د زرو
کله دې کړیو کې بندې کړم د طلا

دا زما په لاس کې کړۍ نه دي اتکړۍ دي
زما دغوږ لښتۍ دوینځیتوب دي برالا

زما دسرو پېزوان دغلامۍ د ذلتونو
زما دغاړې هار مهار دظلم دی دتا

ما دآزادۍ یواځې نوم دی اورېدلی
ژوند مې شولوګی د دې عنقا په تمنا

زه په ټول تاریخ کې ملعبه ستا دشهوت ومه
یا یوه تحفه دستمګرو د رضا

کله به چې خــــرخه شوم نانزکه کنیزکه وم
پښې به مې شـــوې مـــاتې هرظالم ته په نخـا

لرې له همځــــولو، له وطنه، له ملــــګرونه
ستـــرګې به مې پوچې کړې غمـــــونوپه ژړا

لاره د هـــوس کې هرفاسد دپښـــکې ګل کړمه
ځـــــای کې دعـــــزت بیا بې عزته د هر چا

ستاشوه ،امیري شوه، که میري شوه ، که خاني شوه
زمـــا شو، که آفت شو، که ذلت شو که بـــلا

اوس راسره مـــــات کړه دتاریـــخ دا ځنځیرونه
ایسته که له لاري تور دامـــــــونه دجفـــــا

زه دانســـــان مــــوریمه، درنه یمه، آزاده یم
دا د بنــــــدګۍ زولنـــې لـــــرې که له ما

کابل۱۶ر۱۲ر۱۳۵۱

## غزل

مینه د دلبـــــــر زما په ســـــــر لوبې کوي
زړه یې رانه وړی په ځیــــــگر لـــوبي کوي

زه یو بنــــــدیوان د تورو شپو د ژونــــــدانه وم
زمــــا په تورو شپو باندې سحـــــر لوبي کوي

کله چې یې شور د خندې خور شي په مستي کې
زمــــا په سره وینه کې شرر لـــــوبې کوي

هله چې له سپین مخه چاپیـــــر که هـار د زلفو
تور وریـــځ خوره شي او په لمر لـــوبي کـــوي

داسي څپه نشته چې دعشق هـــوس یې نه وي
شور د لیـــــونتوب په بحـــرو بر لوبي کوي

زه آزاد مـــــــارغه وم ترانې به مې ویـــــلې
عشق مې اوس په بڼـــــو لو وزر لـــوبې کوي

هر چیـــــرې چې جگه کړي لایق پیاله د میو
یار په جـــــام کې ویني په ساغـــر لوبې کوي

کابل ۶ر۹ر۱۳۴۷

## درستم لار

نیمه شپه راوخته کـــــوتې ته یوه نجـــــلۍ
پا که لـــــکه ګل اورمنــــده لکه هوسۍ

مـــــلا باندې یې ځـــوړنده د ښهو توره توره
شونـډونه یې سره بربېښنا خوره د خونـــکارۍ

نبض دځــــوانۍ یې خوځـاوه کمیس په تن کې
هسې چې بهېـــــږي سپینه وریځه په سپـوږمۍ

تې یې په زانـــګو داو سپــلو کې ښکته پورته
هسې خوځیـــدل لکه په مــوج جوړه هیلۍ

غبرږ یې پرانستــــلې لکه ګـــل دسبا باد ته
خوله یې له خنــــدانه ډکه کـړې وه مستۍ

ستر ګـــو ته یې میو و ور کړی رنګ د وینـــو
لیږ راغـــونډې شوې ، تنګې شوې، خند نۍ

راغلــــه ورو ورو لکه درنه بېـړۍ ساحل ته
تللې له خپــــل واکه مستـــا نه او لېـونۍ

ورانه له خنــــدا شوه وې یې ګــوره لېونیه
نه به تل ځـــــواني وي، نه شراب او نه شهۍ

وته کتـــــاب شیشه را واخـــــله د شرابو
ځغـــــلي زه یې وینـــــم یو په بل پسې ګرځي

نیسه مې په غېږ کې هسي نه چې خوب مې یوسي
وړی رانه واک دی د شرابـــــــو بیخـــودي

ما په شر مېـــــدلي آواز وویـــــل افسوس دی
نلـــــرم توفیـــق ستا دلبـــــــانو دګـــرمي

زه دوچو دښتــــــو لمـــــر وهلی پونــــده یمه
چېرې وچ اغــــزی، چېرې د ګـــل تازه غوټۍ

شرم راته برېښي چې دې خوله په شونډو کېږدم
څـــاري مې د ولس سترګې لا یوه ګوله ډوډۍ

زه لا رو ږدی نه یم په محفـــــــل دښاپیـــریو کې
خبـــــږي مې له زړه نه ل فریـــــاد دغـــریبۍ

نه ښایي رستـــم ته چې روان شي دمجنون په لار
زه یو مبـــــارز یم چېـــرې زه چېـــرې شهۍ

توکیو ۱۵ر۱۰ر۱۹۶۳

## افغا ن پرد یس په کا با ره کې

مست شو یو افغـــان د «تو کیو» په کـــاباره کې
غېږ کې یې یوه پېغـــــله لکه پاڼـــه د گـــلاب
سر یې لگـــــــولی و د ده په سینه بانـــــدې
زړه یې و سپـــــارلی هـــوســـو ته دشبـــاب
ده یې پـــه دوو تیـــو لگـــولې وې منــــگولې
ښې یې قمـــــا ر کې هــــم جنت و هـــــم ثواب
منځ د کـــــا با رې کې یـــو محشـــر و د نخـــاوو
ځني نخېـــد ل، ځني لوېــــد ل، ځني خـــرا ب
تاو تر سپینـــــــو متو حـــریـــرونه دلـــو گیـــو
تاو تر سرو شرا بـــو تـــور سیخـــونه د کبــــــاب
شپه به نیمـــــایي وه چې ور یـــا د شـــوه خپله مېنه
و نغـــــاړه دردونو ، تې چا پیــر شو اضطـــراب
غـــــورځ ته یې نیږدې شول بیا د لوړې فــــریادونه
یو وړه اند ېښنــــــــو ترینه نیشـــه دمی نــــا ب
جگ شو له خپل ځایه نجل یې پرېښوده مستۍ کې
ورک شو ترینه لـــــوری د حساب او د کتاب
ستر گې یې د اوښـــــکو سېـــــلابونو کړلې پټې
یو وړله د مینې دنیــــاگۍ ترینه سېـــــــلاب

تو کیو ۲ر۹ر۱۹٦۳م

## پیغا م

اې د جاپا ن خلکو مــــاراوړي پیغــــامونه دي
ستاسي جــــزیرو ته زما د غرونو ســلامونه دي

پورې له بحــــــرونو، دا شیا دزړه په خــونه کې
اوسي ا فغــانان ترینه تاو شوي او چت غرونه دي

داقهرمان قـــوم اوږد ماضي لري ، تاریـــخ لري
ډک یې له میـــړانو دهر عصر کتـــــابونه دي

چـــا چې پورته کړیې په ا شیـــا کې دتیــري توره
دوی ترینه غـــوځ کړي ورمیـړونه او لاسونه دي

زړه یې دزمــري، نظر د باز، یرغــل یې تندردي
وړي فا تحــــا نو ترې لحد ته ارمـــانونه دي

خــاوره دغیرت ده ترینه جـــار شمه لوګی شمه
ثبت یې په هر ګـــام کې دتاریخ انقـــلابونه دي

ما له هسې خــــاوري د جاپـــان غیرتي ولس لره
ځـــــان سره راوړي دوروری تازه ګـــلونه دي

دا ګـــــلونه څه دي د وروری بـــــرابری بوټي
دا دافغـــــــنانو ددې عصر شعـــــــارونه دي

موږ له نړیـــــوالونه دوستي غواړو ورورې غواړو
ځــــکه مــــــو پرانستي هرملت ته دزړه ورونه دي

شرم دی انسان ته چې جنــګیږي له خپل ورور سره
هر څاڅـــــکي دوینو کې فتنې دي، آفتــــونه دي

واړه سره یو دي، سره ورونه دي ، ملــــــګري دي
ټـــول بشـــر یوه ونه، ملتــــــونه یې ښاخونه دي

توکیو ۲۸ر۸ر۱۹۶۳

## غرونه او سلامونه

والـــــــوتمه والوتم ، دغــــــرو له څوکو والوتم
راغلـــــم دڅپو او توفـــــــانو سمنـــــدرونوته

ستر جیحون مې پرېښودچې ټکرې خوري له غرو سره
ځـــــــان مې که گـــــوزار د سمنــــدرو ټکرونوته

زه وم الـــــوتونکی د کمــــــرونو، لامبــــوزن نه وم
باز ومه دغـــــــرونو توفان راوړم دریـــــــابونو ته

نه لـــري او نه لـــــري دغـــــــرونو نېشه نه لــري
هر څــــــومره چې ځیـــــر شمه اوږدو دساحلونوته

هره ورځ فوجي ته رسوم د هنـــــدو کش ســـلام
وړمه دلـــــــویانو پیغــــــامونه پیونــــدونوته

یو وخت کې غوړېږي دفوجي او هندو کش گـــلان
یوبه سم گــــــلونه دجاپان خپـــــــلو گلونوته

جوړې به غــــونچې کړم دفوجي له ســـــلامونونه
کې به ږدم غونچې د خپـــــلو غـــــرونو قدمـــونوته

یوبه ســـــــلامونه دبزگـــرو شم بزگــــــــروته
گـــــواکې درناوی دپاکو زړونو پاکـــــو زړونوته

جـــــوړ به دگېشا دزلفو تار نه ربـــــابونه کړم
وبه ښیــــــم دود د ولســـــــــونو ولســــــــونوته

توکیو ۲۵ر۸ر۱۹۶۳

## د جاپان سباوون

په جـــا پان باندې چې خـــور شي سباوون
زماله زړه نه را چاپـــــر شي مـــوج خون

هرې خوا ته چې خو ځېـــــږي د لمر لونې
لاروهي زمـــــا په زړه یا په لړمـــــــون

نه په دود ســـــره پوهېـــــږو نه په ژبه
نا هیـــــــــلي ده ثمـــــره زمــــا د یون

ما وې نن به گــــــوندې راشي زما کورته
سره پـــوه نه وو راغـــــلې وه پـــرون

پاس په ستـــر گو به مې کېنوي که پوه شي
جا پـــــانۍ زمــــــا د مینې په جـــنون

دلته لري دجــــــا پا ن په جـــــزیرو که
را چــــــاپیر دی غم دخلـــکو د ژوندون

یا به سر وربانـــــــدې کېــــږدمه پوهېږم
یا به ودروم په پښـــو ویـــــده پښتـون

له ځیگـــــره مې د وینو فـــــوارې ځي
چې را یاد شي خپـــل ځوانان هغه جبون

نیکو . جاپان ۱ر۹ر۱۹٦۳۷

## انتخاب

په لمبــو لمبــو اورونه د شبـــــاب
راکي مـــړه شول د هــوډونوپه حساب
ما هر څه له خپـــل وطنه قربـــاني کړل
هم دغه و زمـــــا دعمر انتخـــــا ب

## ماهېرکړه

ماوې نجـــلۍ لېږه ستنه شه ځـــکه
خدازده چې بيـــــا سره پيداکـو دلې

دګولو ځانـــګه راکـــړه شوه په ما
په ســـوې ساېې ويـــل ولې ولې ؟

مـــاويل بازيمه د لوړو غـــــرونو
آخـــر به الـــوزمه پوه شوې ګلې

زه يم دغـــرو ددريـــابونو نه يم
بېځـــــايه مه کـــوه دا هلې ځلې

دغم وريځې پې خـوري ورې شوې
لـــــکه ما شـــوم يې راته وژړلې

ته خو به والـــوزې دغـرونو به شې
چـــاته پرېږدې دغه ماغمځپـــلې؟

ما ويل هــو دژوند تقـــدير دي دغه
غم د مردانو ، مرد دغم دی نجـــلۍ

زه يم دغـــــرو دسمنـــدر به نشم
څه وكـــم ببلۍ دي د برخـــو تلۍ

رانه چا پيــــر دي دوطن خوبــونه
دغـــرونو مينه مې دو كـــارۍ ولۍ

زه هم، وطن لــــرمه ولس لــرمه
ماته په لار دي ډېرې ستــر ګې هلۍ

وزر مې ســوځي د پرواز په هوس
ګـــرزېدی نشم اور مې اخلي تلۍ

هېر كه ما هېر كه ، لكه هېر خوبونه
خدا زده چې بيا سره پيدا كو دلۍ !

توكيو٥ ر١٠ر١٩٦٣

## اې زما ورانه وطنه

د سوچې[۱] په ساحلو کې را په یاد شوې په فریاد شوم
اې زما بد مرغه ولسه، اې زما ورانه وطنه
دلته ژوند دی، دلته خوند دی، دلته شور، دلته نشاط دی
حوري ګرزي ډله ډله، هیڅوک نشته بې مینه
په دې ښکلو ښکلو سیمو دانسان لاسونه خوځي
غرونه شنه، باغونه سره دي، ټوله ځمکه ده چکنه
هره پېغله چې تېرېږي، یوه لیلاده یوه دنیا ده
که را غبرګه یوه ورمه شي، ته وا راغله له ختنه
تور دریاب لونې ځګونه، ساحل اخلي ټکرونه
سپین مرغان ور باندې ښوري، شنه فضا ور باندې پلنه
د دریاب دزې په شګو پېغلې نجونه کتار ناستې
هسې لامبې لکه بطې زده يې نه وي الوتنه
هر یو موج چې را پیداشي، سر را جګ کړي بیا په شا شي
څپې تللي دي له واکه، کړي د نجونه ګوړنه
څوک لمبېږي، څوک نځېږي، څوک خواله کړي یو تربله
څوک را ګرزي په باغونو، څوک ګلان وړي له چمنه
د تمام ساحل دپاسه، د موزیک څپې خورېږي
ځوان روسي کمپوزر وړی دا میدان له بتهوفنه[۲]
په فضا کې یو ځای شوی بوی دعطرو له شرابه
په څپو کې یو ځای شوی تور دریاب له سیمین تنه

څوک ړنګیږي، څوک جګیږي، څوک جوړه ځیني یوائحي
دچــــالېڅه، دچـــا غــــاړه، دیوه لاس د بل لمنه
دچـــا شونـــډې په شونډا نو، دچـــا زلفې په چشمـــا نو
آزادي ده ، کــــا مراني ده ، څوک له چــــا نکه پوښتنه
مګــــــرزه غریب تنهــــا یم، نه نځیـــــبږم، نه څوک بیا یم
نه د کـــــــاریم، نه د ښــــــکاریم، نه مې زړه شته نه مې ینه
که نېشه شم که ګـــوشه شم، را یا دېــــــږې درته سوځم
درته ســــــوځمه در جــــــــار شم، اې وطنه بې ځښتــنه
دسوچي د ګـــــلو سور رنګ، سرې لمبې دي را تــــــاو یږي
نه آرام شته، نه قـــــــــرار شته ، په ګـــــــرزا په کېنــــاستنه
زه د کـــــــــــوم زخم دوا شم ، زه دچـــــا په تســــــلاشم
ستا په کــــــــار کې واک وتلی، همـــــ له سره هم له تنه
نه چـــــا بوتی در کې شین که ، نه چا جـــوړ درته ماشین که
حاکمـــــــــان کوي حکمونه، تاجران کــــــوي شکونه
په ځنځیــــــــــــرو یې تړلی، په سمـــــــــومـــــو یې لړلی
دود دې وزي له چمنه ، ځـــــــوځ دې خېــــــږي له سمنه
په کــــــــابل او په زابل دې ، دنفــــــــاق اورونه بــــل دي
لور خپـــــــل مور ته په زړه غله ده ، زوی له پلاره کړي وهنه
څوک ناروغه څوک په لوږو، څوک په وږو ، څوک په سپږو
تــــول ژونـــــدي دې بې پرتـــــو ګه ، واړه مـــــړه دې بې کفنه
نه ورشــــــو شوه دشنبلیــــــــــو، نه پتې شــــــول د لښتیــــو
نه شپــــــــــونکی موږ شو په غوښو، نه بزګــــــــر موږ شو له نغنه

ستا دپاک آسمـــــان دلاندې، ټول جهـــــان ویران ویران دی
ټول جهـــــان ویران ویـــران دی، زه به کــــــومه سمومه
زمـــــا دې لــــــوړه وي په مينه، دافغـــــا ن په پاکه وينه
نـــوی زړی به رسيـــــبږي ، زمـــــا په وينو به شي ونه
گـــــام به واخلمه ميـــــدان ته، سر به کېـــږدم امتحان ته
ستـــــا په لــــورې به در ځمه ، که شي لار دستنـــــو ستنه
ستـــــا ويده به رابيـــــدارکم، ستـــا لار ورکي به په لارکم
ستـــــا دغـــــرو ويده بازان به، رااوچت کــــم له دمنه
اور به بل دآزادۍ کــــــم، بيا په خپـــــله به پتنګ شم
خپـــــل ژوندون به ترې قـــربان کړم خود به کړم دعشق مننه
ترهغو به لاس وانخـــــلم خو په غـــــروکې دې رڼـــا شي
اې زمـــــا غـــــريبه ولسه ،اې زمـــــا ورانـــــه وطنه

سوچي ۱۱ر۶ر۱۹۶۴

---

( ۱ ) دتور سمندر ګي په غاړه دروسیې یو ښار
( ۲ ) بتهوفن ( ۱۷۷۰-۱۸۲۷ ) دجرمني دکلاسیک موزیک یو ستر مصنف .

## مایا کوفسکي

په مسکو کې د گور کي د کوڅې خوا کې
مایا کوفسکي دربند لی لکه غر
ملتونه د شورا ورته ولاړ دي
غوږ ولی ستر مسکو ورته وزر
خپل هدف ته هسي ځیر دی ته به وا یې
په ښکار نښتی دی دوږي باز نظر
هومره دروند هومره ډاډه په ځای ولاړ دی
لکه و نیسي خوشحال خټک خیبر
چې کلونه څو تېرېږي دی لوییږي
زمانه وربانديې نلري اثر
پخپل یون کې یې آسمان له گروې ونیو
له تقدیر سره یې و وا هه ټکر
په حرمت مې مغزی هیچاته کوز نشو
مگر ده ته مې کوزېږي مغرور سر
په عالم کې یې دسولې پیغام خورکه
وروړ ولي ته یې را وبا له بشر
مگر ته اې ستر ا نسا نه، اې شاعره
تابه ستایي څو شاعر شته څو اثر
څو دنیاوي ستا پیغام به ژوندی ساتي
ستا اشعار ، ستاسرودونه، ستا هنر

زما له زړه را اچتېږي داچې وایم
مایا کوفسکي درېد لی لکه غر

مسکو ۳ر۷ر۱۹٦۴

## قلندر شاعر

بیـــا د زمـــانې ډمې اخیستی نوی چنګ دی
لاس کې یې نیولی دبادې په ځای کې بنګ دی

بیا په غـــرو رغو باندې خور شوی دبهار نسیم
غــوږ نه مې چــاپېر دجنـــکو دزلفو زنګ دی

چابانـــدې چې لګي دراتلونکې پسرلي نسیم
دغه زوړ جهـا ن پې دزندا ن په شا ني تنګ دی

سین چې له ډبــرو ســره سر وهي په لاره کې
ښيې په ښـــکاره چې حر کت پخپله جنګ دی

زه د شـــلم قـــر ن قلندر غوندې شاعر یمه
زمـــا بوسه په ټولو جنـــکو باندې قلنګ دی

کابل ۲۵ر۱۲ر۱۳۴۵

## د سبو پیټی

لاره کې موټر په یوه بېوزله ماشوم راغی
ووا هه موټر له ځایه لس گزه گزار شو

ودرېد گړندی لکه خوني لېوه پسه ته
راغی ترافیک یو څه مبلغ ته تمه دار شو

یوه شېبکې وروسته ماشوم خلاصې کړلې ستر گې
ودرېده، بې واره په ژړا او په کوکار شو

ماوې گوندې ژاړي خپلو وینو او زخمونو ته
ده نا څاپي پرانیستلې شونډې په گفتار شو

څه شوه خدای دپاره هغه زما د سبو غوټه
پلار به مې پې مړ کړي که خبر زما په کار شو

کله چې یې ستر گې په پا شلو سبو راغلې
هڅه یې ور وکړه بیا په ځمکه را گوزار شو

وې رېږدېدي گوتي په خاپوړو ور نیږدې شو
غبږ یې ترېنه تاو کړه په سبو باندې هوار شو

وینې یې لښتی شوې په ماشوم صورت یې راغلې
توی شوې په سبو، د سبو پیټی پې خونکار شو

ما چې په ژړنو ســـتر ګو ولیـــده د الـــــوبه
زړه مې له نـــــړۍ او نړیــــــوالو نه بېزار شــو

یو په بېـــکسۍ کې وړې مـــــري دموټر پښو ته
بل په بېـــکسۍ کې خلـــــك وژني او سالار شو

اې په زرو مستـــــو لیږ راکـــوز شئ چې د ا فقر
ستاسې دچـــــړ چو په قیمت خلـــکو باندې بار شو

کابل ۱۵ر۸ر۱۳۴۳

## له زمانې سره يوځای

تبنتي شپې او ورځې زېړي نوې زمـــــانې
ځغلي زما له خولې ور سره سمې تـــــرانې
لېږم له هر گام سره لښکر د ارمانونـــــو
ساتمه را تلونکو ته درزم نشــــــانې
لوبم لکه باد دسباوون ديار په زلفـــــو
غـــوا ړم ماتـــولو دځنځيـــر ته بهــــانې
هر آواز چې جگ شو دمر دانو له مرۍ نـــــه
رېږدي يې له زوره زړې شوې بتخـــــانې
راشئ چې د ميو دريا بونه راروان کـــــړو
نوي يـــــاران نه مستـــوي دغه ميخانې
ځغلم د زمان له قافلو سره په مخـــــــه
ودي کړي رقيب څه يې چې خوښه وي کانې
سر که رانه پرې شو مابخشلی دی په جنگ کې
نکړي سربازان له د ښمنانونـــه مــــانې
لري کړه صياده داعبث دامونه لـــــومي
زه يرغلي بازيم روږدی نه يم پـــــه دانې
هرې زلزلې سره په غرونو دوطـــــن کې
زماد زړه له اوره پورته کــــيږي زبانې
مه يې وېروه لايق دسر په سودانــــــدی
هسي خدا يږوغواړي سر بازۍ ته بهـــانې

کابل ۲۹ر۹ر۱۳۴۵

## بولله دپسرلي هرکلي ته

غرونو باندې پلنې شوې وريځې دنيسان
مځکې باندې اورې مرغلرې دباران
مستشول بيا چړونه په نغمو کې دزرکانو
خوځي کتارونه بيا دزاڼو په کسمان
هره ترانه چې د درياب له څپو وزي
پو کړي په بېځانه دنيا ګۍ کې نوی ځان
خاندي په ډبرو ځراغونه دلاله
وزي له سپېرو خاورو ګلونه دريحان
سپين ګلان په شنه مرغه کې برېښي زما له ستر ګو
شپه کې دمستط ده شنه اسانکې کهکشان
هر څاڅکی دوينو مې لمن لمن ګلونه شول
رګ رګ کې مې خوځي دشعرونو بلبلان
ورېځې چې کتارې شي دغرو په ديوالونو
ته وايې چې خوځي په افق کې سپين وښان
شور چې شي دتالندې غوړوته هسي رسي
ځغلي په اسمان کې يرغلګر جنګي اسان
سم شول په سارا باندې دګلو چپاوونه
وخاته په ترو دريدې ګلو سپايان
غشي دلمر اورې له کړکيو د وريځو
شنې زرغونې واخيست له رستم څخه کمان
جوړ کړل پسرلي له نسترن نه سپرونه

وایسته له تېکې سوسن توره داحسان
وربځې په افق کې سرې سکروټې شوې داور
تاو شوه استالف نه سره لمبه دارغوان
سپين د واورې الوزې دغرو له سر او ږيرې
زوړ چونغر بدل که لمر دمينې بيا په ځوان
تالو کې خورې شوې دشپونکې دشپېلې شرېکې
بولې طبيعت ته گوشه گيره شاعران
رسي دبزگر ستومان زړگي ته نوې دمه
خوځې په رگو کې دشپانه نوی ارمان
او ښکو دباران ته دبرېښنا خوله خند نۍ شوه
زوړ جهان تکرار که داضدادو امتحان
ويلې الماس څاڅې دتاکو له غوڅو څانگو
گلو ته نذرونه دشرابو وړې رزان
ته اې زما ياره ولې گرزې لرې لرې
راشه چې سيندونه دخنداوو کو روان
زه به دخپل زړه بلبل راضې کمه چې در شي
خير که په سينه باندې دې رپې دوه بازان
جار به دا بلبل ستا دبازانو تر مستۍ کم
جوړ به بل دده له فريادو کمه جهان
وخانده چې وسپړې غوټۍ ماشومې شونډې
وناڅه چې مست شي هم زمين او هم زمان
ما باندې خوره که يوه خيمه دتورو مشکو
يو ځلې خواره که په پالنگ زما زلفان

زړه که دې دښکار مینه لري زما دلبره
غشي دبڼو زما سینې ته که نشان
مه ګوره اوبو کې هسې نه چې ستا له مخې
ډوبه زما دمینې دنیاګۍ شي په توفان
ما له دې ساړه قالبه وباسه دور ځو
مست مې که، بېخود مې که،قربان مې که تر ځان
شور راکه، ګداز راکه،قدرت دسربازۍ راکه
ماته هم طبیب شه، هم دارو شه، هم درمان
ومې منه،زړه راکه او یار دتورو شپو مې شه
می شه، پیمانه شه، زما تن شه، زما ځان
ومې سوځه،ومې رټه، خاوره دسارا مې که
کاشکې سپېلنی شم او له تا شمه قربان
ګل مې که، بلبل مې که،شانه دخپل سنبل مې که
او یاره ! له خپلې بېدردۍ یمه ستومان
داسې بېدردي چې سوځي سوځي مې هډو کې
داسې بېدردي چې سړوي زما فغان
داسې بېدردي چې زما له مینې سره لوبي
داسې بېدردي چې زغمای نشي عاشقان
یو ځلي دې ستر ګې زما په زړه که هسې خښې
واورم فریادونه کې دننه دانسان
هله به بیا وبولم دژوند خوږې سندرې
وبه شرنګومه جرسونه دکاروان
سمه به ګرمي کړم دنغمو په مړو ایرو کې

مست به کم سیندونه سپېره غرونه به لړزان
ور به ماتو زړونو ته پیوند کمه دهیلو
ور به مړاوو هیلوته گرمي کم جاودان
متې به مې روغي کم له تیږو دپولادو
سر به حادثو ته کم داو سپنې سندان
دې لو څو پټو کې به خواره دعشق گلان کمه
خپل ښکلي وطن ته به جهان کمه حیران
شپوله به د گلو په عطرو کې لېونۍ کمه
بېل به کم دوریو له رمې څخه لېوان
اوري به خوښي له کاڼي کاڼي ،بوټي بوټي
سم به شي له هیلو دزلمو سره زمان
یوبه سي سیندونه له دې غرو سمندرونوته
زموږ دورورولۍ او دیووالي داستان
مست به سمندر شي له تودو بشارتونونه
وبه نڅوي په تورو تلو کې کبان
بیا به دڅپو هاتیان وروليٍ په غېږو
وبه خوځوي زموږ په فخر کې توفان
هله به وما ناکامه او ښکې مرغلرې شي
هر داغ دسینې به مې یاقوت شي درمان
هره ترانه چې دلایق له خولې نه وزي
وایي حماسه دعظمتونو د افغان

کابل ۷ر۱ر۱۳۴۱

## بولله دوطن په ماتم او پرتم کې

بیـــگا خوب کې را ښــکاره شوه دخوشحال د منهو سیمه
له لیمــــــو نه مې روان شول په څپــــو څپـــــو رودونه
اورا خیسی و شنیــــلیو د مــــردان په پولـــــــه پوله
اوریدلې ترې ســــکروټې، جـــگیدل ترینــــه دودو نه
دپنجاب له تورې خولې نه، شنې لوخړې غړوسکه غړوسکه
تو یېـــــد لې پیښورته ، وې یې نیســــــه اې پښتـــــونه
هره ونه فــــــریادي وه، چې زه سوځمــــه زه سوځــم
له هر وره هرې کـــــړکۍ نه ، چـــا پیر شـوي وو اورونه
دوطن په شنه لمن کې ، په هـــــر بـــا غ او هــر چمن کې
بهیـــــدل داور سینــــــونه ، جوړیـــــد ل کې تنـرونه
دپښتون په برخه جنګ شو، خپل وطن ور با ندې تنګ شـو
دننګیا لو په کـــــور راغلــه ، د لـــو ټمـــارو چپـــاوونـــه
دمیر ویس مرۍ ته لاړې ، د ګر ګین خوني منګـــــــــولې
دغوټۍ هیلو ته سیخ شول، دخزا ن ســـاړه بادونـــــــه
دایمل په غیـــــرت خاندي ، دپنجـــــاب دغـــلام ستر ګې
دبابا له نغـــــــــري باسي دپښتـــــــــون عصمتۍ جونه
دلنـــــدهي له سینې وزي دغضب تـــــــکې سرې کوکې
دخیبـــــــــر په زړه کې ایشي دپیــــــړیو کســـــــاتونه
دپامیـــــــــر په څوکو څــــــاڅي دالماس له تورو لوښکې
بله نشي له دښمنه مـــــــــــــاتووبه غـــــــــــلافونه

دهېـــــلمند دڅپـــو وښې، له غضبه گـــــوښې گوښې
سره ځغـــــــلي لکه وربځې، سره اوړي لـــــــکه غرونه
اباسين چې لا اسيـــــــر دی، پښه تړلی په ځنځيـــر دی
اوس تر زغـــــرو لاندې ناځي، جقـــوي تور ځنځيرونه

✹ ✹ ✹

دابه کــــــله پای ته رسي دا زمــــــوږ دپېغـــور عمر
دا به کــــــله رالنډېږي دا زمــــــوږ دکـــــور غمونه
دا به کــــــله رانړېږي د غليــــــم د ظـــلم بارې
دا به کــــــله پورته کېږي دا زمــــــوږ سره بيـــرغونه
دا به کــــــله پای ته رسي د پښتـــــون ناپـــايه چيغې
دا به کــــــله تمامېږي دا کيږدۍ ستـــــړي مزلونه
دا به کــــــله پای ته رسي دا زمـــــوږ دخلکو منډې
دا به کــــــله اوچتېږي دالويــــــدلي ټيټ ســرونه
دا به کــــــله راپارېږي دا زمـــــــوږ دغوسې تريخې
دا به کــــــله راپاڅېږي دا زمـــــــــوږ خره غيرتونه
دا به کــــــله راټولېږي، تر وطنه به جـــــــــارېږي
دا ددښتــــــو دلمر سوي،دادغــــــرو رغو پسونه
څو به دغه تور پنجاب وي، زموږ په وينو به سيراب وي
څو به دوی وي او حکـــمونه، څو به موږ او زندانونه
څو به دغه مـــــــودودي وي، ورسره به مردودي وي
څو به دا مـــــــلا او ملونه ، څو به دا دم او دامـــــــونه

ځو به دغه پېښـــــــور وي ، پښتنو ته به سقـــــر وي
پنجـــــا بي ته به جنت وي، پکې جونه او جـــــامونه
ځو به دغه اباسين وي ، له غمـــــو به يې زړه شين وي
ځو به دې جنـــــګې خيبر ته ور په بر خه وي شرمـــونه

✸ ✸ ✸

اې دلو ننـــګو ککرو ! چېرې خـــــاورې شوئ دخاورو
د خوشحـــــال په شناختـو ګرزي داورنګ د زوی اسونه
دتاريـــخ مېړني چېرې؟ تېغ يې کـــوم ، لښکرېي کوم دی
دافغـــا ن په نامه چېـــــرې ، هغه ځغـــا ستې او ننـــګونه
ګــــــرمي تللې ده له لمــــره ، پښتــــو تللې له خيبـــره
په تيـــــرا راخــــورې شويي، سرې شپې ســــاړه کلونه
په دې خاوره کې ګرمي وه ، په دې خــاوره کې مستي وه
په دې خـــــاوره کې نغري وو، په دې خاوره کې دودونه
له اټـــــکه تر چتـــــراله اوس ختـــــــلې سا له سيمې
نه يې ژونـــــــد شته په هڼو کې، نه يې خوځنـــده نبضونه
اوس چې دلته کوم پښتون دی، ښه مريي دی ښه زبون دی
نه يې زړه کې عشق د تــــــورې، نه يې سر کې هـــوسونه
داچې لوړې يې شمـــــلې دي، د کـــلدارو يې اسرې دي
دافغــــان په ننګ ځوک نه کا، نه جنــــګونه نه مرګونه
اوس دبست په تاق کې خـــوب کا دسارا سترې ګيدړې
د زرنــج په شـــــګو نا ست دي دوحشي لېــــــوه پلونه

اوس دغـــور په غرو کې ور کې دغـــوري زمريو ځالې
اوس دبلـــــخ خاورو خـــــوړلي هم يما هم يې توغونه
دمحمـــــود په ښار خـــوره ده دتاريخ دمـــر ګ برستنه
نه پيـــــلان، نه يې لښـــــکرې، نه ا رم ، نه يې رمونه
په باميـــــان دآسمـــــان ستر ګې تکې سرې لا له غضبه
د بـــــودا مخ پسې توږي لا داو ښـــــکو غور ځنـــګونه
د چـــــونغر په لمن ور که د کـــــــوشان د دور نښه
موتې خـاورې ټول ښارونه، څو سکرو ځې ټول قصرونه
بر د غـــور دغـــرونو غاړې ، بې غـــروره بې سروره
جام له شرمه ځـــوړند کړي هريرود ته خپـــل غوږونه
غرجستـــــان چې ويرانه ده، کې ويده لا زمـــــانه ده
شرمنـــــــده لـــوړو بادوته ، دبا با دغـــرو سرونه
بدخشان ـــــلوږې وژلی، انسا ن وږی، حيـــوا ن وږی
څه که غـــرونه يې سره زر دي ، څه که تيږې يې لالونه
اې آزادو خلکو څه شوئ؟هوډ مو څه شو، ننګ مو څه شو ؟
کوم دي کوم دي يرغـــلونه، چېرې چېرې مرچــــلونه ؟
کله کله به نـــاره شي ، تکه سره به تاتـــــــره شي ،
داټک لمـــــن به سره شي او آزا د به شي مريـــــــــونه ؟
دا جـــــــنګي مارغان به چېرې ، خـــوروي دبري زيري
دا آسمـــــان به کله پوښي داورونو درمنـــــــــدونه ؟
دا به کــــــله راځړېږي دغضب دتوفـــــــان وريځې
دا به کله ترې اوريږي سرې ســـــــــکروټې تندرونه ؟

دا به کله کـــــانړي چوي، دابه کـــــله غرونه خوځي
دابه کـــــله تکه سره شي داسمـــــــان دا نیلي خونه ؟
دابه کـــــــله غېشي ولي تر برېښنــــا چټکې ګوتې،
دابه کـــــــله تورې باسي دپولادو مـــــــړوندونه ؟
دا به کـــــــله لاره وزي درانه جهـــــــان پر لوري
دابه کـــــــله پخـــــلا کېږي رټل شوي ارمــانونه ؟

✸ ✸ ✸

اوس خــــو وخــوځه له ځــــــایه چې د اور لمن ته رسي
په نغـــــــري نغـــــري دې اوري دپېــــــــــړیو لعنتونه
ستـــــــا دتورې باچـــا خان شو دپنجاب دخندي خلی
ته لا څه ته منتظـــــــــــــري يې نور به څه وي ذلتـــــــونه
که اورنګ دی که فرنګ دی ، دواړه یو دي، واړه یو دي
که ایـــــــوب دی که بوتـــــو دی دهماغه خره غوږونه
توره وباسه له تېـــــــــکې چې ریښتـــــوني یې باور شي
ستا په ننـــــګ او په مېړانه ، ستـــــــا په توره اې پښتـونه
هـــــــره لاره ورته نیسه ، هره تیـــــــږه ورته څـــــاره
هر ګـــــودر ورته ګــــرداب که،هره ورځ ورته کــلونه
بانــــــدې ویې شـــلوه خېټې، ترېنه ویې باسه ستـــر ګې
پې ور ویې ځپه ژامې، پې ورمــــــات یې که غــاښونه
سمه غر ورته سنـــــګر که، نا پایاو ورته ګـــودرکه
پربـــــــکوه ترېنه لاسونه، غوڅـــــــــوه ترېنه سرونه

هر قـــــــدم ورته دربړه، هره لــــو ښت ورسره وژنه
چې په مخه ورادا شي دپېــــــــړيو تـــــــاړاکونه
دکبـــــــرونو کنډولی یې تورو خـاورو کې نسکور که
چې را پرېوزي له مستۍ نه، چې را کـــوز شي له جنونه

✸ ✸ ✸

زه دې خپـــل وړه ته حيران یم، دې بې وسه وطنپـال ته
ته به وا پې اجــــاره دي ، ددې ټول وطن غمـــــونه
دشاعر زړه خو شاعر وي حسن غواړي شراب غواړي
جـــــوړوي په تصور کې دخپـــــل خوښې جنتونه
کله رغړي پاس په وريځـو، دسپوږمۍ دشودو جام کې
يا د يــــــار په توده غـــــــږ کې په سر اړوي اورونه
دشــــاعر دنیا خو هسې یوه رنګینه دنیـــــاګۍ وي
دا په تا ولي رالام شــــــول ټول دردونه او رنځـــونه

✸ ✸ ✸

اې وطنه زمـــــاتنه دا دتـــا د مینې کــــار دی
چې را سم يې کړه کــــــو ګل ته دا دوینو سېلاوونه
ته زمـــــا دعمر خوند يې، ته زمـــا دزړه خاوند يې
ما ګــــــاللي ستا لپـــــاره څه چې دي ټول کړاوونه
ما چې هر چیــــرې خندلي په مستۍ کې ستاله شوقه
زما خـــولې ته را سم کړي ظالمانو خپـــل سوکونه
ما چې تا بانــــــدې ژړلي، ټولو سپـــو راته غپـــلي
ستا په سر راته شپـــــرمه دي دسپــکیاوو تعذیرونه

که هر څــــو په تا ځوربږم له دې ځـــوره نه مړ بږم
ستا لپـــاره يې زغمـاى شم څه چې دي ټول کړاوونه
زما په ټول وجود خـورې دي ستا دمينې د لمر وړانګې
زمـــا په پله پله کې بهېږي ستـــا دمينې شـــرا بونه
ستا نسيم د لوړو غـــرونو ځان پوکي زمـا په تن کې
ستا ددښتـــو د باران بوى مستوي زمـــــا رګونه

✹ ✹ ✹

دا وطن دې تل آبـــادوي، دا سنــــګر دې تل آزادوي
پـــــکې خوځې دې وريځې، کې بهېـــږي دي سينونه
پـــــکې پلنې دې رمې وي،پکې ډېـــرې دې ګلې وي
کې دې څرې سور کې وښې، کې دې ځغلي سپين اسونه
کې دې ښورې دلمر وړانګې، کې دې ناڅې د ګل ښانګې
کې دې ځلې رڼې پرخې، کې دې مست وي شنه رودونه
د آسمان خول دې رنګين وي، دښد يا څادر دې شين وي
لنګـــوټې دغرو دې سپين وي، سورانسان سره هدفونه
توره وريځ دې نقـــا شي کا، مسيحـــا دې جما شي کا
زمرد دې فرا شي کــــا ، رشک چين دې شي دښتـــونه
د افق لمن دې سره وي، په دې غـــرونو دې خـوره وي
کې دې الـــوزې بادونه، کې دې پـــاتې وي يادونه
دا يادونه د ننـــــګونو، دا يادونه د جنــــــګونو
دا خــــورې ورې کـلاوې، دا اوچت اوچت برجونه

دا دسپـــــاندو بوي بېديا کې، دا دنجونو شور په ورا کې
دا جلګې جلګې ملــــــکونه، دا هوار هوار رغـــــونه
دغه جـــګې جګې تړې، دغه غـــــرونه دړې وړې
دا بهان بهـــــا نده لړې، دا څپــــان څپا ن خوړونه
دا په واورو پټې څـــــوکې، دغروب دلمبــــو نو کې
دا ځنځير ځنځيري غاړې، دغه نيــغ ختلي غـرونه
دا غونډۍ غونډۍ دخـــاورو، دا پوټي پوټي دشـــګو
دغه ځوړې ځوړې تيږې، دا پوړۍ پوړۍ کمـــرونه
دا دتالنـــــدو سنـــدرې، دږليو مــــــرغلرې
دا ببـــر ببــــره بوټي، دا حشي وحشي ګـــــلونه
د سپوږمۍ په ښکلې شپه کې، دچوپياوو په سينه کې
د وښـــــانو کـــاروانونه، دشپېــــــليو آوازونه
دغه شنې بخمــــلي ښېځې، دا په غرو څپرې وربځې
دا چمن چمن ګــــــلونه، دا رنګين رنګين لاشونه
دا سنـــــد ربږي دپوټيو، دا شفتــــلې د پټيـــــو
دا لښـــــکري دغوټيو، دا بخمـــل بخمل چترونه
دريدي توفان په راغ کې، دګلاب مستي په باغ کې
دا دنيـــا دنيا رنګـــــــونه، دا دريا دريا عطرونه
دغه ښويي ښويي پرښې، پې خورې دبېښنا کـرښې
په ډبرو کې پړقــــــــونه، په پړقو پسې ټکــــونه
همدغه زمـــا وطن دی، ځما ځان دی ځما تن دی
له ده بل زما اورونه، له ده رنګ زمـــــا عشقونه

دی رڼا زما د ستـــــــر گو، دی طاقت زمـــا دغبر گو
دی زما دژو نـــــدون شو مه ، له ده رو غ زما فکـــرو نه
له ده جـــــوړه زما وینه، زمـــــــا ژو ند او دده مینه
له د ه پلنې دا سنـــــــــد رې، له د ه پورته دا شعـرو نه
له ده جوړ زما بنیاد دی، هم مې پلار هم مې او لاد دی
ده ویـــده کړه اجـــــــدادو نه دی به روزي او لادو نه
ځوځوندی یم دی مې کوردی، بیاچې مړشم دی مې گوردی
زمــــــا تن د ده له تنه ، زما هډ د ده هـــــــــډو نه
زه که ســــــا یمه که تن یم ، سر تر پـــا یه د وطن یم
زه وطن یم ، زه وطن یم، زه یې سین ، زه یې مـــوجونه
څو همدی زمـــــوږه مل وي، دنجـات ډیوه به بل وي
دی قــوت زموږ دمنــډو ، له ده جگ زمـــوږ غـــږونه
زه همدغه قبـــــــله ستایم ، دا لمنځمه دې ته پـا یم
دا وزر زمــــوږ د هځو، پې ژو نـــــدي زموږه زړونه

✸ ✸ ✸

د«لایق» د سینې اوره خپـــــل نغري کې لېـــونی شوې
ودې نه ښــــوول نړۍ ته، دوطن د زړه داغـــــــــونه
لا کیږدې هغه کیږدۍ دي، چې پې تېرې سل پیړۍ دي
پېڅــــــول لا دوزغنـــــــو ، د کـــوچي لاهغه خونه
دا انسا ن بایـــد آزا د شي، یو ځل وخـاندي او شا د شي
دا هېـــر شوی با ید یا د شي، ظا لمـــان شي سرنگونه

لا گـــــا لي يې له نا كـــــامه، له آ غـــا ه تر ا نجامه
د ړانده ه آسمــــا ن ځورو نه، د كاږه حــــا كم ظلمونه
دغم ځـــــلي بايد وران شي، پې ورسم ياغي توفان شي
وحشي خان عاجز انسان شي او هوا ر شي لوړ ترجونه
د كــــلا له لوښتې لوښتې ، شي دزور كمبـــله ټوله
شي ټا ټوبی دبز گـــــرو، بز گـــــران شي سره وروڼه
دغنمو طــــلايي سين، دمــــلاک دزړه هلاک شي
يو ځل وخاندي بزگرته دا سور سين سره يې موجونه
د كښتو په سره درياب كې سمه سا واخـــلي دا سوی
شپېه وغوړوي لمر ته خپـــــل آزا د تن ا وهـــــډونه
د مـــــو گرو په تيـــاره لار برېښنا وغځـــوي مزي
په نامېندو زړو خواره شي داميــــــــد زرين وزرونه
د بز گــــر دژوندون ځاله ډوبه ډوبه شي خوښۍ كې
پكې ډ ك شي تش جامونه، پكې تش شي ډ ك خمونه
داويرجن ماښام برات شي ،دا غمجنه ورځ اختــر شي
په دې وچـــــو دښتــــو راشي دشنېليو د ريا بونه
دجــــوار ډوډۍ لنـــده شي دعـزت په سپينو پيو
لیږ روښا نه شي ليــــږ پا كه د پيــــــړيو ره خـونه
زيار ايستونكې را بيدا ر شي، په را زونو خبر دا ر شي
همغــــوی جوړوي لارې ، همغـــــوي باسي پلونه
هر پاڅون يې آبا دي ده، هرغورځنـګ يې آزادي د ه
هـــرآواز چې را اوباسي، غورځـــوي تور زندا نونه

له دوی بل چېرې چې اوردی،له دوی جګ چېرې چې شوردی
پې توده فضـــا دځمـــــکې، پې رانه واړه ښــــارونه
دوی ضـــامن دآزادۍ دي، معمـــاران دآبـــادۍ دي
په دوی ګرم سنـــګرونه، په دوی ښـــــکلي نهضتونه

کابل ۱۵ر۴ر۱۳۵۳

## د زردشت د ښار پسرلی

بیا د بلـــخ په شنه ور شو کې، دلا له په درمنـدو کې
ده ور کـــړې لېـــونو ته د بهــــار ساقي بلنه

بیـــا بان خوله خوله دی، د تازه باران له او ښکو
د وږمـــو سپېڅـــلي سين کې، دغوټۍ جامه نو نه

غـــــوړولی په سارا کې بهـــار فرش درنگينه وو
زړه ځمـــکه ځوانه شويي هرقـــدم چکن چکنه

دبخدي په کنـډوالو کې گام په گام د گلو شور دی
شرنـــگوي د گـــلو پاڼې دعـــاشق نسيم لمنه

وربځې گل شي بيا سنبل شي د مار مل دغره په ټنډه
ريدي خپـــژي په بامونو، خـــاټول وزي له دمنه

له رنـــگين افق نه اخلي جادو گر ما شام مچکې
په پستو پستو وږمــــو کې عقل وړي له عقل منه

لمر چې کوز شي ډوبېدو ته ته به وايې داورتوپ دی
يا عـــا شق زړه د غـــروب دی، راوتلی دی له تنه

يا د سرو گـــلو له موجه رابعې راپـــورته کړی
د وفـــــا په وينو لـــــژند خپل ياغي سر له کفنه

ته به وايې له آسمـــــانه اوربدلي سره گـــلونه
يا مجنـــون ده غوړولي په شنېليو خپـــله ينه

يا سره توره دچنـــگيز ده راوتلې بيا له تيـــکي
چې خوټېږي زړې وينې په بخـــدي کې لاتر ننه

يالمبه د نوبهـــــار ده د لاله په اوغـــــلو کې
يا زردشت په سجده پروت دی په ســکروټو کې دننه

يا سرې وړانـــگې له جنته يزدان لوني پر گـــلونو
يا توی شوی پر جهـــان دی جهنم له اهــــرمنه

دسرو گـــلو شاته ښـــکاري دالبرز بخملي ناوې
لکه پېغـــله چې پرته وي دوصـــال په سره بړستنه

پاس له څوکو را شېوه دي تورې وربځې ړنگې ړنگې
لکه پرې چې بردي په تيـــو خـــورې څڼې شل کلنه

په بېـديا کې سره خاندي سپين گـــلان له سرو گلانو
په باغـــو کې لاس تر غـــاړه بنفشه له ياسمنه

شنې غونډۍ په گلو ډوبې ، پې خورې زېړي پټارې
ته به وايې زېړ قيطـــان دی د پسرلي په شنه چپنه

په دې ښکلي شنه وطن کې، ددې خاورې په لمن کې
کاشـــکې گل دبيابـــان وای يا دشنو درو يوه ونه

یا بـــاران دپسرلي وای اوربـدای په تربیو ځـــوځو
جـــګېدای له هره ځـــوځه دغوټیـــــو یوه ونه

په دریاب کې یوه څپه وای یا په وربځو کې لمبه وای
دغو مــــړو ته مې ښوولای د ژوندیو خوځېدنه

جګې جګې ســـاقي راکه، سره اورونه مهیـــا که
مـــــرور یار راپخـلا که ،چې پې وچښو یو څو منه

ورکـــوه یې ورکـــوه یې،مستــوه یې مستوه یې
خنــــدوه یې خنــــدوه یې، له سپېدو تر مـاخوستنه

تشوه دخـــــم اورونه، تــــودوه ساړه جـــامونه
چې دا یخې شپې یونسي، سور ارمـــــان له ارمانجنه

چې دمیــــو په مستۍ کې داجهـــان لمبه لمبه شي
چې دسرو ګـــلو په سین کې دافضا شي سره بخونه

چې دسر له سودا خـــلاص شي سودایي د تورو زلفو
چې دعشق په سوي اخته کــــا د مطرب سینه دننه

ګـــوندې نوې کړې تارونه دزاړه ربـاب په ستونې
ګـوندې سر کړې په نغمو کې یوه نوې ازمــــوینه

بلخ ۱۲ر۲ر۱۳۵۴

## وطن ته

اې وطنه زما د ما شومتوب
زما د ناپوهۍ او لېونتوب
زما د بد مستۍ د زلمیتوب
زما د بېخوبیو دآ شوب
اې وطنه زما !

فکر مې د تا د غرونو باز
مینه مې د تا د رګو ساز
شعر مې د تا د زړه آواز
ستا د سترې مینې داعجاز
اې وطنه زما !

درد دې دو ګړو زما د ځان
سر مې ستا بې سرو نه قربان
مه او سه بې تا نه زما نشان
اې سپېڅلې خاورې د افغان
اې وطنه زما !

## د پولادو زړه

دا پولاد دی که له غونډو نه جوړ زړه دی
چې جک کړی یې په ننګ پرچم دخلکو
سپېلنی یې دسپر غیو دغیرت شــــــم
څوک چې زړه کبابوي په غم دخلکـــو

## وطن ته

ستـــا په وچو دښتو غــرو کې اې وطنه
ستـــا په لارو سړکـــــو کې اې وطنه
ستـــا دهرې لوېشتې ځمکې په سینه کې
ستـــا په ښارو اومېــــرو کې اې وطنه
ستا دوربځو اوشینکي آسمـان په زړه کـې
ستـــا په وچه او اوبـــــو کې اې وطنه
په جومات کې، په مکتب کې،په دفتر کې
ستـــا دمــــړو په هدیرو کې اې وطنه
سرې لمبې او آفتونــه راروان دي
جابران په دې حدودو حاکمان دي

کابل ۱۰ر۱۰ر۱۳۴۶

## تېر شوی بهار

دځوانۍ پر خمار راغلمه زړښت ته
څو مې سترګې خلاصولې بهار تېر و

ترا مې لاس ورغځاوه دیار کاکل ته
دمستۍ د شپو او ورځو کتــار تېر و

کله چې ونږېږي تور قصـــــــرونه
کله چې ورپېږي سرې جنـــــډې

کله چې غبرګې شي په لوړو برجو
د پــــــونده وو درغـــــلي لمبې

کله چې پلنې شي په غرو رغـــونو
دځنځیـــــرو د مـــــــاتوو ټپې

کله چې وخوځي د سین په زړه کې
مستې، بیباکه ، لبـــــــــونۍ څپې

کله چې تندر او برېښناوو ســـــره
سر را اوچت کړي د مظلوم اسرې

زه به بیـــــــا هله ترانې لیـکم
په خپـــــــلو وینو به ټپې لیـکم

۲۰ر۷ر۱۳۴۸

## پښتون

څه ساده دی دا پښتون چې تــــر بګني کا
زه د زړه وینې پې چښم دی دښـــــمني کا
خلکو لاندې تر پښو ستوري سپوږمۍ کړل
دی لا دوو مېړ.و ته نا ست دی او شپني کـــا

## د ځوانۍ لمبې

راځه راځه اې مستانه نغمې
دنوي ژوند نېشې
چې ایرې کېږ.ي او سرې پږي دځوانۍ لمبې

زما ترانو ته نوی خوند ور که
ابدي ژوند ور که
زلمي سپاره ته بل میدان او بل سمند ور که

هغه ځواني څه ده چې شور نلري
خاصه داور نلري
دریاب به څه وي که څپه نلري زور نلري

زاړه که وینې پروني خوبونه
خپل لیوني خوبونه
موږ. ته را څېرمه کړه دعصر نني خوبونه

زموږ په چيغو کې قوت کېږده
يو څه هيبت کېږده
زموږ په هڅو کې دغرونو عظمت کېږده

راځه راځه اې مستانه نغمې
دنوي ژوند نښې
چې ايرې کېږې او سرېږې دځوانۍ لمبې

ښرنه ـ پکتيکا ۲۶ر۲ر۱۳۴۳

## ځوان ته

ژوندون یوه لار ده ، هیـــله ډېوه ده
توشه درنه ده ، هیلــــه اوږده ده
په هر قدم کې ، په هره لوېشت کې
دنېکو بدو یوه هنـــګا مـــــه ده
قدم مضبوط بږده ، وار خــــطا نشې
ستا په آرزو کې د نیا پر تـــــــه ده
د ژوند سند ره و دبقا لـــــــوبه
له تا خوره ده ، پر تا تــــــوده ده
ته نوی ځوان یې ، ته لوی افغان یې
ته یوه هستي یې ، ته یو جهـــان یې

کابل ۵ر۶ر۱۳۴۸

## دسبا هیله

په دې تیــارو کې
په اوږدو شپو کې
په دې غمــــو کې
په اند یښنـــــو کې
زړه ته مې رسي یوه نوې دمه
روښانه ښکاري د سبــــا بڼه

غرونه به شنه شي
ګلان به سره شي
خوښي به ویښه
غم به ویـده شي
ما ته را رسي په صبحدم کې
نغمه د وصـل په زیروبـم کې

شفق سور کېږي
سبـــــا را خېژي
رڼا خـــــورېږي
تیـــاره کمېږي
له غرو را غبــر ګه نوې نغمه ده
ژ ښته خو شبویه، ډېره خوږه ده

یه زویـــه زویــه
د وطـــن زویــه
گوره تنګ نشې
عرصه ده لــویه
لیږ منتظر شه سبـــــا د تا ده
مخه دې پا کړه لار دې رڼا ده

کابل ۱۷ر۸ر۱۳۵۴

## ملگرو ته

اې ملـــــگرو زمـــــا دعقیدې
زمــــا دغم په شپـو کې د دېرې

زمـــــا په ترانـــو کې دا مید
خلــکو په مرچل کې دجـگړې

لاس کې جلبــــو نه دتوفـــــا ن
پښو لانـــــدې اسو نه حـا دثې

هر قـــــدم خطر دغرقېـــــد و
شـا او خــــوا اورونه د فتنې

هــــر آواز دتالنــدې د مرگ
هــــره سا سر کشې زلـــزلې

سر کې یرغــــــلونه د بــري
ستر گـــــو کې برېښنــا دغلبې

مـــړه مشرق له شا نه غلې غلې
څو کې راښـــکارېږي دلمبو

بیا د شپو وهلو غـــرو په خنډو
سره رڼـــا خورېږي د سپېـد و

پښو کې دپیـــــړۍ دا ســیرا نو
بند په بند ځنځیـــــر په متېدو

ورانو د پـــــوالو کې د بز گـرو
شـــور د آزادۍ په خورېـــد و

شپه د لو تمارۍ په تېـــــرېدو
لمر دعـــــدالت یه را ختـــو

اې زما ملـــــګرو د جنګـــــو
زمـــــوږ دسرو سر کشو بیرغو

اې را ویښوونـــــکو د زنګـــو
زموږ دزمرو خلـــــکو دننګـو

اې را خوځـــــوونکې دڅپـــو
اې سر مـــــاتوونکو د ظلمـــو

اې لښـــــکره زموږ دار ما نو
اې په مخه تلونکو سېـــــلاوو

نشته بله لاره بې له ننـــــګه
نشته بله مخه بې له جنـــګه

ښرنه پکتیکا ۷ر۴ر۱۳۴۸

## سرې وريځې

بيا د غـــرو له څوکو څوکو
سرې وريځې را ښـــکارېږي
دافق تـــــوره پټهـــــاره
په ســـــــکروټو جړا وېږي
نن دځمـــــکې له گـــرمۍ نه
دآسمـــــــان بڼه بدلېـــږي
دا دچادوينو رنگ دی « دآسمان لمنې سرې دي»
دا د چا د زړه له اوره په وريځـــــو کې لمبې دي

دتيــــــاره ماښام په زړه کې
د سحـــــر نښې ځلېـــږي
د سبـــــا زرينې وړانـــگې
را خــــورېږي، را رسېږي
دجهـــان دا ضرورت دی
سره رڼا به يې خــــورېږي
دغه ښـــــکلي مرغلرې شعر ندی انقلاب دی
دسبا له سره آسمـانه را ښيل شوی يو شهاب دی

سرې وريځې سپـــلاوونه
په درو کې را بهيـــــږي
دا تيارې ځپــــلي غرونه
سرو موجونو کې ډوبيږي
تور رنــــګونه راتمبيږي
د ژورو په خـــــوالوپړي
اې دسرو لمبو زمنو! ګـــــرندي شئ چې زړېږم
زه دتورو شپو اسير يم لاس مې نيسئ چې ډوبيږم

يا به مــــوږ يو يا به نه يو
دا جونګـــــړه به رڼا شي
دا دشپې غــــارتګران به
ټولو خلــکو ته رسوا شي
دا دغم تـــوره دنيـــا به
ډوبه ډوبه په خنــدا شي
دهغه وخت نيک بختا نو هېر مونشي دا جنګونه
ددې تورې شپې په زړه کې دلارويو سره ننګونه

پلخمري ۲ر۲ر۱۳۴۷

## دآسمان بدل رنګ

بیا بدل دی په دې سیمه دآسمان رنګ
دتاریخ د غور ځنګونو د امـــکان رنګ
زموږ هیواد عبرتکده د ټول عـالم شو
ځنـــــاورو ته اوښتی د انسان رنګ
دا به څـــو ک وي ؟

ننه په سینه کې مې څوک ساز کوي
شور کوي، مستي کوي، آواز کوي
مېړي مو نړی ته د دوستۍ پیـــام
لیکي زما په وینو د راستۍ پیـــام
ګواکې د انسان دآزا دۍ پیـــام
ګو ره دا به څو ک وي ؟

کله چې تیارو کې زه بې ځا نه شم
وډار شم له چا نه بې ایما نه شـــم
و لګوي دی دفضیلت څــــــرا غ
رون کې زما رګونه دغیرت څراغ
تل دې وي ژوندی دا دعزت څراغ
ګوره دا به څوک وي ؟

کله کله غواړم چې سر کته کړم
خرشمه دچا او ځان په کته کړم
دی بیا را بیدار شي او مستي کوي
ما را گرزوي زبر د ستي کوي
نه دچا خر کېږي نه پستي کوي
گوره دا به څو کوي ؟

کابل ۱ر۳ر۱۳۴۳

## یا دونه او درمند ونه

بیا په غنمو لوونه ګډ شول
بیا درمندوته ګېډۍ چلېږي
بیا نجونه راغلې دوړیو ټول ته
بیا دسره دوبي لمبې بلېږي
بیا هغه لو دی، هغه لرونه
یواځې لښته نه معلومېږي

په لښتې لښتې ، د کلیو حورې
داچې تنها یم څه دې یا دېږم ؟
زه چې ګېډۍ ته لاس غځومه
ته را په یاد شې نو بیا ژړېـــږم
نه لو کې خوند شته،نه په لاره کې
له ناچاریه یو څه خوځېږم
کله زنګېږم، کله ړنګېږم
کله درېږم ، کله غورځېږم
هر څه چې یمه ، هر څه چې کړمه
اې زما لښتې
تا یادومه

بیا درمندوته خانان راغلي
په لوو ګرزي زموږه ځار کړي
په مستو مستو ا سونو را شي

چې بد گمان شي سترې شمار کړي
هغه زلمی بیا را پید شوی
چې په هر لوی او واړه گوزار کړي
تر خپلو سپینو ستر گو د لا ند ې
نجونو ته گورې چې کومه ښکار کړي
مگر اې لښتې
هر څه چې یمه، هر څه چې کړمه
تا یادومه

گرمي سوځلی زما پوستکی
له هر و ښته مې خولې بهیږي
لور مې پخ شوی، لاس مې زخمي دی
سر مې چکر خوري، ملامې خوږېږي
نه مې همدر د شته، نه مې ملگری
نه مې څوک نازي ، نه را جارېږي
ورځ خو لا ښه وي چې پېښې وړمه
تو به له شپې شه سخته تېرېږي
مگر ا ې لښتې
هر څه چې یمه، هر څه چې کړمه
تا یا دو مه

افسوس ا فسوس دی لارمې اوږده ده
د تا لید وته، ستا بوييد و ته
د ژ وند سیند و نه، دژ وند غمو نه

مخ کې پراته دي در رسید وته
هر کښت چې ریبم، هربار چې وړمه
غوا يي چې با سم قلبه کوو ته
هر څه کړمه، هر څه چې یمه
اې زما لښتې تا یادومه !

بالا دوري - پلخمري ٦ر۴ر۱۳۴۲

## سیلاني بزگر

بې پروا راغی ساده بزگر دی
پښې یې چاودې گرېوان شکېدلی
مخ یې شو کارې، شونډې یې وچې
لوږې اخیستی، گرمي وهلی
سر ببر شوی، نوکان مات شوي
پایڅې شکېدلې، خیرو خوړلی
چاوېرولی، چا ځورولی
چاربړولی ، چا غولولی
ساده بزگر دی، دچا نوکر دی
جشن به گوري
او بیا به درومي

کله په شا ځي ، کله په مخ ځي
کله را ستون شي ، کله روان شي
کله موسکی شي، لېږ خندنی شي
کله ناڅاپه له خندې وران شي
ښار ته راغلی له لرې سیمو
هر شي ته گوري ورته حیران شي
چا ټېل وهلی، چا پر زولی
چا را شړلی، چا شرمولی
ساده بزگر دی، دچا نوکر دی
جشن به گوري

او بيا به درومي

خلكو ته گوري ښه لبا سونه
تور پتلونونه ، سپين كميسونه
په پښو بوټونه ، په تن كوټونه
سره يې مخونه ، سپين يې لاسونه
څوك له مېرمنو ، څوك له زمنو
جوړه جوړه ځي زلمي او جونه
د ده په زړه كې خوځي موجونه
تش ارمانونه ، وچ هوسونه
سا ده بزگر دى، دچا نوكر دى
جشن به گوري
او بيا به درومي

خدازده چې شپه به چېرې سبا كړي
خدازده چې نس به چېرې بسيا كړي
څوك پسې گرزي ، څوك يې پروا كړي
كه خوار رنځور شي ، را پې ضرور شي
څوك يې دارو كړي، څوك يې دوا كړي
له غرو را غلى ځا له يې نشته
بې شپو نه ورى دى تا له يې نشته
ساده بزگر دى، دچا نوكر دى
جشن به گوري
او بيا به درومي

پلاریې مړ شوی دوطن جنګ کې
دی یتیم شوی، بیا دهقان شوی
اوس چې جشنونه دخپلواکۍ دي
چا ورته وېلي را روان شوی
په لرې لارو ، په شپو او ورځو
ښار ته راغلی او ستومان شوی
بې پناه شوی، بې امان شوی
جېب یې خالي دی پښیمان شوی
ساده بزګر دی، دچا نوکر دی
جشن به ګوري
او بیا به درومي

کابل ۱ر٦ر۱۳۴۴

## تا یا دومه

لا مې یـــــا دېږي په دې بېـــــد یا کې
وښان خواره شوو، کېږدۍ شوې پلنې
لا مې یـــــادېږي په دې ورشـــو کې
ستا مرغلرې او ښــــــکې ویرجنې

اوس را روان دي ســـــاړه بــادونه
دمني غبشي، دیـــــخ پوخـــــونه
باران ځپـلي، سبـــــلۍ وران کړي
دشـــــــگو پاسه زمـــــــوږ پلونه
بیدیا بې ژونده، ژوندون بې خونده
یخنۍ لوټ کـــړي ددښت گـلونه
ستاسي رغـــلو کې او به ډنډ شوې
نه یې ایـــــرې شته، نه یې اورونه
زه ویر ځپـــــلی، غمـو نتلی
یوائي نا ست یم تا یادومه

بر بنـــــډې شوې د بوټو څـــا نگې
د بېـــــــوزلانو په څېـــر رېږي
په شنه آسمان کې تورې وریځي
په مـــا را گرزي ورو ورو ژړېږي
د لري سیمـــو دغـــرونو څوکې
په لـــــړو پټې نه معـــــلومېږي

مغرب په وینو دغـروب سوردی
مشرق تیاره کې دغـم ډوبیږي
چوپیـــا خوره ده په ټوله سیمه
نه څوک خوځیږي نه څوک ګرځیږي
زه ویر ځپـــلی، غمو نتلی
یواځي نا ست یم تا یادومه

د کاروان لار کې ابته نا ست یم
ستا سي د کـــډو لاره څـــا رمه
خوشې دې ګـــالم انتظارو نه
څه وکـــم یا ره، ځان غولـومه
هسې د کــــډو په هیـله هیـله
وخت تیـــرومه، ځان هېرومه
په دغه چـــوپه سړه بیـــد یا کې
د مینې دروی ورو غـــــبرومه
زه ویر ځپــــلی، غمو نتلی
یواځي نا ست یم تا یادومه

مګر اې ښـــکلې پوونده پیغـــلې
هرڅه چې شته وو خزان لوټ کړي
د بـــــا د څپیـــــړو، د منې غیشو
د ژونــــــدن څلي په مخه وړي
خـــو زما په زړه کې لاپسې ځغـلي
د ستـــــا د مینې ابـــــدي زړي

زه ویر ځپـــلی ،غمو نتلی
یوا ځي نا ست یم تا یادومه

کا بل۱۷ر۸ر۱۳۴۴

## راځه سارا ته ووزو

بیـــګامې زړه ته وویل راځه ســـاراته ووزو
وېرېږم چې راغـــــلی پسرلی به وروستنی وي

راځه له امـــــــانته عمره واخلو خپــــله برخه
په عمر څه بــــاور چې هره سا به غوښتنی وي

ددې ترلیو خـــونو په فریـــــاد مې تسل نشي
سارا به څه خبرېږي چې مجنون یې کورنی وي

باران ته به دبلو لمبــــو زړه کېږدو په پښو کې
په اوښــــکو نه تېږېږي هغه اور چې لېونی وي

سپـــاره به کو په تالندو ګونګ سوي فریادونه
په چوپه نه رغېږي هغه درد چې مـــــر ګنی وي

کابل ۱۳ر۷ر ۱۳۵۵

## یتیم

په ســـاړه بـاد کې د مني یـــخ ته
په لوبــو بوخت، پهٔ منـــډو سر دی
گریوا ن شـــکېدلی، پښې یې چاودي
ستـــــر گې لیچنې، سر یې ببــر دی
ښـکلی ما شوم دی، تقدیر یې شوم دی
په پردي وره کې بې پـــلا ره ستر دی
دا جهان وران دی
دا جهان وران دی
یوه ته جنت دی، بل ته زنـــدان دی

د باد شپېـــــړو په مـــــخ شین کړی
تو لـــــو همځــــــولو یو ځل وهلی
پوزه یې ماته ، غـــوږ یې شو کـارې
لاس وینې شوی، سر لـــــگېد لی
چا یې خنـــدلي، چا یې تـــو کړي
یوه رانیــــولی، بل خــــملولی
دا جهان وران دی
دا جهان وران دی
یو ه ته جنت دی ، بل ته زنـــدا ن دی

مـــــور يې له غمه عقـــــــل با يللی
په پردي کـــــار کې صورت خوړلی
ژونـــــد يې تياره دی، اميد يې نشته
د لارې مـــــل يې مـــــرگي بيولی
يوا ځي پـــــاتې اوږدو غمـــــو ته
وړه يې مات شوی ، شباب يې تللی
دا جهان وران دی
دا جهان وران دی
يوه ته جنت دی، بل ته زنــــدان دی

پلار يې مړ شوی اوږدو رنځو کې
په ساړه رغـولي ، په تورو شپو کې
د په ويره او انديښنـــــو کې
د زوی له غمه په ژړيـــــدو کې
بيا يې با يللي ټول ارمـــــانونه
په څو ځگېرو و کې، په او سېلو کې
دا جهان وران دی
دا جهان وران دی
يوه ته جنت دی، بل ته زندان دی

ور ځـــــه ور درومـــــه دزړگي سره
په پښـــــو بر بنـــــډه ، په سر بـــــره
انسان رنځور دی، اخته په چـــور دی
هيـــــله ونـــــکړې له دې بشره

په خپلو پښو شه، په خوځېدو شه
همدا دې لار ده زما ځیگره
دا جهان وران دی
دا جهان وران دی
یوه ته جنت دی، بل ته زندان دی

ټول سره یو شئ، ټول سره یو شئ
که یتیمان یاست، که یسیران یاست
تقدیر مو یو دی، دښمن مو یو دی
که اوښبانه یاست، که بزگران یاست
خښتې یې باسئ، لرگي یې سوځئ
که نوکران یاست، که چاکران یاست
دا جهان وران دی
دا جهان وران دی
یوه ته جنت دی، بل ته زندان دی !

پروان مېنه- کابل-۸ر۸ر۱۳۴۴

## د مینې برخه

بورا سېږ شو د ګلابو په اغزیـــــــــو
چې دعشق نازونه وړي دغه به ګــالي
چا چې سر او مال قــربان که له وطنه
پې دوزخ شول دوطن ښکلي ورغالي

## دپکتیا غرونه

داغرونه ، دا جګ غرونه، دالوړ او دارساغرونه
دا دتوریالیو د سنــــــګرو دوفــا غرونه
دغه تاو راتاو په ونو پټ دپکتیـــــا غـــرونه
دا دیرغلــــــګرو ماتوونکې بې همتا غرونه
دا د شجاعت او دمېــړانې او رښتیا غرونه
دا دمېلمه پالو د ننګونو او سخا غـــرونه
دا د استقـــــلال او آزادۍ او د بقا غرونه
دا دپکتیا غرونه
دا دپکتیا غرونه

دلته زمونږ خلــکو د دښمن ژامې ځپــلې دي
دلته مېړنیو خپــلې وینې بهـــــــــولې دي
دلته شازلمیـــانو دزمرو لارې نیــولې دي
دلته په فرنګ باندې مــونږ میندې ژړولې دي

دلته زموږ نيـــکونو زلزلې را پـــا رولې دي
دلته دجنـــګي ا سونو تلې پريـــــــوتلې دي
دا دپکتيا غرونه
دا دپکتيا غرونه

دلته په کـــــلو کــــلو پراته زموږ نيکونه وو
دلته د سرتېـــــرو شا زلميانو سنـــګرونه وو
د غلته پښتو وه، پښتنــــواله وه، ننــــګونه وو
دلته هديرې ، دلته نغـــــري، دلته دودونه وو
مينه وه، ورورې وه، ملاتړ و ، غيــــــرتونه وو
دلته له تېرې سره ټکرې وې ، جنـــــګونه وو
پېچ د هر کنډو يې تند رونه او مــــــر ګونه وو
دا دپکتيا غرونه
دا دپکتيا غرونه

اوس زمــــوږ په برخه دزاړه نظام ظلمونــه دي
لوږه، نـــا پوهي ده، بې وسي او مرضونـــه دي
توره تربګني ده او له ورور سره جنــګونـه دي
جوړ راکې دسپين او تور اوهرنامه ګوندونـه دي
کډې لېږدول دي ، سوځول دي او مر ګونه دي
بې له کوم هدفه د اوږدو لارو مزلــــونه دي
يا په دروازه ديوه دني کې خدمتونـــــــه دي
ځکه په شرمونو شرمېدلي زموږ غرونـــــه دي
دا دپکتيا غرونه

## دا دپکتیا غرونه

موږه ظالمـــانو څه بې ځایه ننــــګولي یو
موږ یې په وطن کې له خپــل وروره جنګولي یو
موږ یې هر آفت، هرې بــلاته تېل وهـــلي یو
وروسته له غرضه یې په شا بانـــدې شړلي یو
بیــا یې وږي کړي، بربنــډه کړي او وژلي یو
یـــا یې د سپېتـــانې دروازو کې درولي یو
مـــوږ یې دنفاق او ځان ځانۍ په تار تړلي یو
موږ یې دوطن دې جـــګو غرو ته شرمولي یو
دا د پکتیا غرونه
دا دپکتیا غرونه

سپک کړل ظالمانو زموږ سیمه او انســـان
موږ یې له رڼا تېې تیارې ته کــــــړو روان
موږ څخه یې ورک که دمـــردۍ نوم او نشان
زمــــــوږ له لاسه پرېوتلې ملـــونه دزمـــان
ښــــکلې پکتیـــا ته یې رانه که شیطان
موږه یې بد نام کړو پر ګنـــوته دافغـــــان
راشي ګوندې وخت بیا د ننـــګونو یو زمان
هله به مـــوږ ور کړو خپل وطن ته امتحــان
رسي زموږ غــــرو ته اوس بادونه دجهـــان
دا د پکتیا غرونه
دا دپکتیا غرونه

را به سېلاوونه شي، برېښناوې به جل بلې شي
پورته به بادونه شي ،ژلۍ به تلې ولې شـــي
هیلې دغریبو او مظلوموبه منــــــــلې شي
دا غټې کېرې دخون خوارو به ځـــپلې شي
غوځ به شي سرونه او دېرې وینې به تلــې شي
لوږه به رڼا شي ، ددې غرو څوکې به بلې شـي
دادپکتیاغرونه
دادپکتیاغرونه

څرېکې دغیرت به را پیدا شي په سرونو کې
جگه به ناره دانقلاب شي په په کامونـو کې
نوی زور به واخلي اتڼونه په ډولونــــو کې
زموږه سره وینه به توده شي په رگونــو کې
مینه دانسان به راژوندۍ شي باده زړونو کې
روح دآزادۍ به رادننه شي په غرونــــو کې
دادپکتیاغرونه
دادپکتیاغرونه

کابل ۳ر۲ر ۱۳۴۹

## جاپانۍ نجلۍ

په مخه راغله جاپانۍ جلۍ
سپینه هیلۍ نجلۍ
دودرېده مسته

ماسلام ورکه په خندا شوه نجلۍ
په کټه ها شوه نجلۍ
ماته شوه شاته

په تبسم يې راته وويل «کوني چيوا» [1]
«دوزو يورو شيکو» [2]
له خندي ورانه شوه

ما ورته وې په رب که پېږم نجلۍ
بدمرغه کېږم نجلۍ
په ځان پوهېږم

د پښو په څوکو شوه رهي هوسۍ
د جزيرو هيلۍ
زه شومه پاتې

دمخ په لمر يې وربځې راغلې دغم
ستر ګې د رياب شوې دنم
له زړا ورانه شوه

ما ويل پوه شوم ليږ ستنه شه نجلۍ
اې زما ښكلې شهۍ
دې ويل «اې اې اې» ۳

توكيو ۲۰ر۸ر۱۹۶۳

---

( ۱ ) شپه په خير
( ۲ ) دمهربانۍ له مخې پام لرنه وكړئ
( ۳ ) نه، نه، نه

## دبس خا طره

را سره مـــــل شوه په یـــوه بس کې
یوه مسته پېغـــــله تـر واورو سپینه
لاندې له ستر گـو یې پټ ځـــا رلم
را ته کتل یې په مینه مینه
زړه یې غوښتلې ما خبرې
دلرې سیمو څو مرغلرې
بس چې خالي شو نو را نیږدې شوه
په سوې سایې وکـــــړه پوښتنه
دکوم ځای گل یې، دکوم دطن یې
څنـــــگه را غلی تر دې وطنه ؟

وې مې څو شپې یم ستا سو وطن کې
یوه اونۍ وروسته بیـــا په پروازیم
وزر مې سوځي ، قـــــرار مې نشته
مر غه د لوړو و دغـــــرونو با ز یم
زړه مې ور کـــــا ږي دوطن غرونه
سر کش سینـــدونه ، بېباک چړونه

ورو په مســــکا شوه ویل یې وایه
خوښې دې نشوې هنکا نگې نجونه
په هرقدم کې ، په هره لوېشت کې

لکه گــــلونه، شيندي عطرونه
ښنــــګه يې وايه پټهان رازونه
لا دې تــرلي دزړګي ورونه ؟

ماوې افسوس دی ګلې چې نه يم
نه د سيـــــلونو، نه دعشقــــــونو
کله چې برخې وېشـــل کېدلې
ماته يې راکـــــړل واړه غمونه
زه مبـــــارزيم، زه .مجنون نه يم
د چــــــا په زلفو کې زبون نه يم

۱۹۶۳ر۹ر۲۰

## ملگرو ته

اې زما ملـــــــگرو دتوفـــــــان دسختـــو شپو
اې په دغو شپــــــو کې لاربنـــــــوونکو د څپو
دغه څپې څه دي؟ دسبـــــــا د انقـــلاب څپې
دغه توفـــــــان څه دی ؟ د اولس د پـــــــر گنو
دا دزيار ايستـــــــونکو، دبزگـــــرو، کاريگرو
دغه د سرکشو ، بت شـــــکنو کـــــــــکرو
دغه څپـــــــې څه دي دوطن د فـــــــکر لاره
دغه توفـــــــان څه دی روغ عمـــل دجنگېدو
کنـــــدو گـــــــړنگونو کې د لارې د يستو
فن دبرېــــــدو، هنر منـــــــدي درسېـــد و

دغه څپې څه دي ؟ دا دخلـــــکو نهضتـــونه دي
چيغې دي ، نارې دي ، زولنې دي او بنـــــدونه دي
منڼې دي، لوېده دي، پرمختګ دی، سترې ماتې دي
شور دی دخنـــــــداوو يا داوښـــکو بارانونه دي
يا يوه خنــــــدا ده دکامگـــــارو دخنجر دنېښ
يا ديـــــوه ولس دزړه سرکښه فريـــــادونه دي
کله دزاړه نظـــــــام دژونـد وروستنۍ هڅې دي
کله دمـــــات شوي قهرمـــــان دزړه ټوپونه دي
خامخـــــــا راتلونکې دسرو وينو سېلاوونه دي
ديو داستبــــــدا د سره د خلـــــکو حسابونه دي

ځـــم به په دې لاره که مې تګ شي په لېـــمو
اې زمـــا ملـــګرو دتوفان دسختـــو شپو
اې په دغو شپـــو کې لار ښـــــوونکو دڅپـو

څه دی، توفـــان څه دی ؟انقـــلاب د پر ګنو
مـــوږ به دڅپـــو مخه توفـــان ته سموو
موږ به خپـــــل آسمان په سرو وريځـــو پوښوو
مـــوږ به له آسمــــانه تنـــدرونه اورووو
مـــوږ به له غـــوصی نه ډک بادونه خوځوو
لاره د نجـــات به په تو فـــــان کې لټوو
ديو داستعمـــــا ر او استبـــد اد به ا يلوو
وري به په رمه کې له لېــــوانو خـــلا صوو
ای دانقـــلاب جنګي ګـــاډی باندې سپرو
اې زما ملـــــګرو دتوفـــان دسختو شپو
اې په دغـــو شپو کې لار ښـوونکو دڅپو

نن په نړی خـــور دی دانقلاب د بري لمر
شور دی دځنځیـــر د ماتـــوونکي اکتوبر
اېشي په آمـــو کې دبزګر دلـــړمون وینه
سرې وړانګې خوربږي پاس په څـــوکو د خيبر
ځـــالو کې نور نه کېږي ټاټـــوبی د بـازانو
سوځي الـــوتو ته دجنـــګي مارغه وزر
هر آواز چې وزي د زيـــار کښو له کوګله
نيسي له دښمنه دجـــــګړې نوی سنګر

مه سپموئ خلـــــکو له جگړې نه جنگي سر
ستا سو سره مـــــل دی که بــری دی که ظفر
تل دې وي ژوندی د زيار ايستـــونکو دغه لمر
تلين د انقــــلاب ، ځــــلانده ورځ د اکتوبر
اې په سرو لمبـــو کې استــادانو د لامبو
اې زما ملـــــگرو د توفــان د سسختو شپو
اې په دغــو شپو کې لار ښـــوونکو د څپو

يو کئ خپــل توفان د درست جهان له توفانو سره
يو کئ خپل سنــــگر له ويتنـــــاميانو مېړنو سره
لوړه سره جنــــــډه دآزادۍ کئ په زيار کښو کې
گډه باندې مات کئ ښخيرونه له کانگو سره
يو کانــــــدئ آواز د انقلاب په ټوله وچه کې
سپينـــو او له زېړو او له تورو پرگنـــــو سره
سېل د آزادۍ شيه او يو شئ له سېـــــلو سره
يوه کـاندئ جبهه دکروندو له کارخانو سره
هره لويشت سنگر دی او چت غرونه له درو سره
ولړزوئ کلي او کورونه له ښارو ســـــــره
اې جنـــــگي لښکره دزيار کښو د اسرو
اې زما ملگرو د توفان دسختو شپـــــو
اې په دغو شپو کې لار ښوونکو د څپـــو

کابل ۱۳ر۸ر۱۳۴۶

## غرونړېده

مړ شو قهـــــرمان له خپـــــلو تړيو ارمـــانو سره
ونړېد ه غـــــر له خپـــــلو پټو زلـــزلو سره ؛
دا سې زلــــــزلې چې پلنبـــدې پرا خېدى نشوې
ځمـــکه بې احسا سه وه د بانـــدې راوتى نشوې
دې وو ټول غـــوړ.ونه دچاغوړ.ته رسېدى نشوې
لرې وه د نيـــا لويې د نياته غځېــــــدى نشوې
تنـــگه وه فضا پخپل محيط کې خوځېدى نشوې
بل ترې لا ندې اور و تمېدى غلې کېـــدى نشوې
وې چاود ه کوگل پخپل ضمير کې يې مستي وکړه
سر يې ترېنه وا خيست او سپلو زبر دستي وکــړه

ودرېد هغه زړه چې ستر يې هيـــلې ارمـــانونه وو
ستــــره يې دعـــوه وه بې پايـــانه يې مزلـــونه وو
مل يې له هر ټـــوپ سره دسرو وينو مـوجونه وو
مخ ته يې هر گــــام سره کوهي وو گړنگـــونه وو
تاو ترېنه دلــــــو نړۍ دردونه عـــــذا بونه وو
کور يې درست جهان و، انسانان يې واړه ورونه وو
ټپ شو دوطن په ترږمــــــو کې دخيبـــر څراغ
مات شو دتيــــا رې د ير غمـــلو د سحر څراغ

څو چې يو زلمی وي ستا په پلـــونو به پلونه ږدي
څو چې يو افغـــان وي ستا په قبر به ګلونه ږدي
پيغلې د شونډو ستا په شنا ختو سره لا لونــه ږدي
مونږ به مخـــونه ستا په پښو به اور بلونه ږدي
څو چې زمان دروميږي پربل بانــدې کلونه ږدي
ستا مجسمه بشپـــړوي ستا هيکـــلونه ږدي
اې په ارمان تلليه زمــــوږ ستر او قهرمان وروره
اې زموږ دعقل اوعقيـــدې او دايمان وروره

ورونه به ژوندی کړي تا دتاله هـــــد فو سره
ستــــا ساندې به وايي له پښو لو ځــو بوټو سره
ستـــــا له‌تني ورونـــو اوښنو او غوښنـــو سره
ډکه به دنيـــــا کړي ستــــاله چيغو او نارو سره
جوړ به ځـــلاند ځلی کړي دتاله ارمـــانو سره
وبه لړزوي هـــــوارې، غـــرونه، له درو سره
اې دافغــــــا نا نو دعزت او د غيـــرت زويه
اې ستـــــره انسانه دبشر دکــــــرامت زويه

مړه دې دي هغوی چې تې وهلی ځـــورولی وې
ته يې په قفس کې اچـــولی ، ربــــړ ولی وې
ته يې په ګنـــــاه دعقيدې باندې شـــړلی وې
ته يې په حسرت کې خپـــل مرام ته ژړولی وې

ته یې په اورونو او ســـــــــکروټو اړولی وې
تې دا ستبـــد اد داړه مارانو ته تـــــــژړلی وې
ته یې قاتـــلانو او لېوانو ته سپـــــــارلی وې
ته یې بر بـــاد کړی، محـو کړی ، او لوټلی وې
ته دې تل ژوندی یې ریز مریز دې ځنځي رونه کړل
پرې دې زولنې کړې ، دړې وړې دې بندونه کړل

دا مې ستر ارمان دی چې زه هېڅ در ته کوی نشم
ډېـر دي پراوونه تاته ځــــا ن در رسوی نشم
غـــرونه ، دریـــابونه ، آسمانونه ژړوی نشم
ستــــا د دښمنــــــانو برجــــلونه نړوی نشم
سوځي مې هلهٔ وکې ستـا دردونه هېروی نشم
ستا غمو مې مــــلا را ماته کړې ترې وتی نشم
جــوړ به در ته قصر د شعرو کــــم ابدي به شي
لوی به شي ، ژوندی به شي، سمبول د آزادي به شي

کابل

## نوی آهنګ

غوږو کې مې شرنګېږي بیا نغمه دنوي چنګ
ته ګوره دا به څه وي ؟
یا مینه لېونۍ شوه
یا کتنه ځنډنۍ شوه
را غلي مې په زړه کې ارمانونه په غورځنګ

رګو کې خوځېږي دجانان دحسن څرېکې
زما په وینو لیکې
پیغام دنوي ژوند
زه اخلمه ترې خوند
وړمه دیار دڅنګو خوځوي زما پالنګ

بیګا په مدرسه کې ملا وتاړه کتاب
را وایې خیست رباب
په بزم باندې سم شو
له رند سره محرم شو
زاړه یار په سر وړول دنوې مینې بنګ

رټلي او سېلي مې اوس دیار په مخ لګېږي
صورت مې تول رېږي
څرخېږم له مستۍ
لا هو مې کړه بېړۍ
را رسي په بوسو کې دژوندون نوی آهنګ

## پښتون

زه يو آواره، يو ســــــر گردان او يو پښتــون يمه
زه دڅو نــــــــدانه دوير شپېلۍ دغمـــو يون يمه
يو ځلي سكـــــندر زما هيواد تر پښو لاندې كه
بل واري عـــــــربو بې كلتوره بې وطنه كړم
وروسته بيا چنــــگېز په ما دظلم لمبې بلې كړې
بل ځلي تيمـــــور بې هديرې او بې كفنه كړم
زه هر جهانگير او هر وحشي يو ځل لپلی يم
زه هر بې وطنه خپـــل وطن كې ځورولی يم

څو ځله نيـــولی با چهــــانو هندوستان په ما
زه د هر جـــابر د هـوس لار كې وژل شوی يم
څو واره له ډال او له خنجـــر او كمر بند سره
يا را نيـــول شوی يا په نورو پلـــورل شوی يم
ما چې چا ته تاج او سلطنت اوواك ور كړی دی
زه بيــــا د هغه په لاس بندي يا شړل شوی يم
زما په ځيگر ينبې زمانې لك يرهرونه دي
زما له خولې وتلي مليونونه فريادونه دي

زما په مټ عـــــربو ملتونه لانـــــــدې كړيدي
زمـــــا په زور بابر پراخ ملـــــــكونه رانيولي دي
زما په يون محمــــــــود دسومنات بتكده ماته كړه

زما یه تېغ څوک مړه، څوک سلطنت ته رسېدلي دي
ما ته مـــګر توري لوږه، تنده ، بدبختي راوړه
ډېر ځله مې یوې ګــولې ډوډۍ پسې ژړلي دي
څوک چې فتح شوی زه یې وره کې درولی یم
دا زما تقـــدیر دی زه تل وږی ګـــرزېدلی یم

نه نه زه غلط شومه ما څـــوک لانـدې کوی نشي
مـــــاد چا قــــوت برباد وی او ځملوی نشي
ماـپه غلامۍ کې له دې وروسته څوک ساتی نشي
مـــا له خپـــلې لارې اړوی او ګرزوی نشي
مـــا څوک په ګولیـو او اورونو ما توی نشي
اوس ستر ملتونه څوک خوړی او هضموی نشي
ما څوک خښوی، محو کوی، او ورکوی نشي
زه اوس د پېـــړیو له خوبــونو را ویښېږمه
لیـــږه دمه را که آزادۍ چې در رسېږمه

نور دچـــا لپـــاره ستر ښـــارونه ورانومه نه
وینې بهــــــومه نه او چـــا ته څه ګټمه نه
یوه کــــونډه کـــومه نه او بل یتیمــــومه نه
دوست خپه کــــومه نه، دښمن خوشـــالومه نه
بیا دچـــا لپاره خپل بچي حـــــلا لومه نه
بې له خـــــلو خلــــکو تر چا سر قربانومه نه
ما ته غــوږ کې نوي حوادثو څه ویلي دي
ما ددې استـاد درسونه ټول په زړه منلي دي

زړه خــو هغه زړه وي چې جـــذ به دآزادۍ لري
سر خـــو هغه سر وي چې هـــوا د سربازۍ لري
متې هغه متـــې چې توفیـــق دآبـا دۍ لري
زه هغه ملت یم چې نــــنګونه او مـــردۍ لري
تنـدر او توفـــان لري ، برېښنـــا او ترږمۍ لري
لاره دنجـــــات لري ، ما ښو لري بېـړۍ لري
زه دتوفانونو په زانګوکې روزل شوی یم
زه دزمـــانې سختو شپېړو ازمویـــلی یم

یو شئ سره یو شئ اې غریبــــو ښتنـــــو ورونو
اې زمـــا پښنولوڅــو اوښبنواوغوبنـو ورونو
اې زمـــا بدمرغو، دربدرو ، لېـــــونو ورونو
اې زمـــا دپـرون دبې وسیــــو د ا سرو ورونو
اې زمـــا دهیـــواد دسبـــا وون دعظمتو ورونو
اې دانقـــــلاب دغورځنـــــګونو دڅپو ورونو
پاتې مو لا مخې ته درانه درانه مزلـــــونه دي
غرونه دي، کوهي دي، بې حسابه ګړنګونه دي

کابل ۹ر۶ر۱۳۴۵

## د بخت لوبه

دپښتون مانۍ په شخړو کې کېږدۍ شوې
د پنجاب تورې کېږدۍ سپینې مانۍ شوې
زه دې تورو تقـــدیرونو ته حیـــــران یم
چې زموږ په لاس کې تورې ا تکړۍ شوې

## دا پښتون

خدایه ځنـــګه دې ذلیـل که دا پښتون
د تاریــــخ دافسانو غښتـــــــــلی یون
چې په تشو لاسو ځغاست دتورو جنګ ته
ترېنه تـــــللی هغـــه بـــرم د پرون

## د وطن بڼه

نن مې په کو ګل کې تازه شوي مړه اورونه دي
سر يې رانه وړی ياغي شوي ارمـــــانونه دي
سم په استثـــمارد کارګرانو ګوزارونه دي
منلې، تکل دی، له دښمن سره جنګونه دي
سره راته ښـــکارېږي په بهار کې دچمن بڼه
سره بيـــــرغ ته ورته دزمــوږه دوطن بڼه

مست به شي بهار اوراروان به سيــلاوونه شي
ويښ به په درو کې دغضب ويــده بـادونه شي
وربځې به خــورې شي او آزاد به تنـدرونه شي
جوړ به له خــاټولو دبزګر دسر ګلـــــونه شي
دا وطن به خــلاص شي له ظالمه ګلستان به شي
خود به ګلستان شي د کارګر او د دهقان به شي

اې ګــــرانه وطنه ستا نه جار زمـوږ سرونه شه
مړه دې دښمنان شه او قوي دې سنګرونه شه
لاس دزيـــــارايستونو نه دې لرې دا بندونه شه
جګ دې د کـــــارګرو نړيوالو مه سرونه شه
ته ښــــکلی وطن شې د کارګرو د بري وطن
ته انقــــلابي شې د بخـدي او د هري وطن

جار دې شم وطنه له دې مستو شا زلمو سره
بیا د قرباني شم د کار گر له نهضـــــتو سره
زه سپېلنی کېږم ستا له تورې او ننگـــو سره
مر مه په هوس د زیار ایستونکو له جنگو سره
نشته بـله لاره بې له جنـــگه له دښمن سره
نشته وفـــا نشته بې له دې نه له وطن سره

کابل ۱ر۵ر۱۹۷۱

## د سر قرباني

سم به نشي څو يې مات نشي هډو نـــه
دا ظلمونه، دا فتنې، دا گوزارونــــــه
دا ټيټ شوی سر به جگ نشي د خلکو
څو ور نکړي قربانۍ کې خیل سرونـه

……

## د مردۍ ننبه

دمر دا نو دمردۍ ننبه به څـــــــــه وي
چې په خوله کې پر ته قیضه دخــــــره وي
په ذ لت کې دمردا نو ژو ند پیـــــغور دی
چې له خلکو نه قربان شي څو مره ښه وي

........

## د زیا رایستونکو لښکر

نوی زمـــــــا ن راغی مــــا توي زاړه بتا ن
نشته دی اما ن
نشته دی اما ن

پا څېږئ زمنو درنځونو ، دغمو نـــــــــو
پا څوئ با زا ن دځپل هیوا د له لوړو غرونو
ننه با سئ اور د سږې ځمکې په ر ګو نــــو
دا وطن را ویښ کړئ دپیړیو له خوبو نــــو
دی به شي سرلوړی دسیا لیو دجهــــــا ن
خلك به ودا ن
خلك به ودا ن

مـــوږه یو لښـــکر دزیا ر ا یستونکو دپیغا م
گـــوا کې دوروری، برا برۍ او د ســلام
مـوږه عدالت غـــوا ړو په ځمکه کې تمام
مـوږه سرغنـــدوی یو د کار گرو دنظـــام
هغسې نظـــا م چې هستـــوي نوی ا نسا ن
وړ ددې د ورا ن
وړ ددې دوران

موږه هم وطن لرو ، هم سیمه، هم جهـــا ن
دغو کې مېشته دي زیا ر ایستونکې کا ر گران
موږ په هر قدم کې یو له دوی ســــــره روا ن
داده زموږ لا ره، زموږلوری، زموږ شــــا ن
حکم د زما ن
حکم د زما ن

کا بل ۲۲ر۷ر۱۳۵۱

## پسرلی را روان دی

گورئ پسرلي ته را روان دی له مستۍ ســـره
راغی درنگونو اوعطرونو له هستۍ ســـره
ځغلي پر کمرونو دګلانو له ځولۍ ســـره
لو بي له وريځو، اوآسمان ، اوله نړۍ ســـره
جګې له نسيمه دژوندون نوې سندرې شوې
تويې له بارانه الماسونه مرغلرې شـــوې

وربځو مرمري تاجونه کېښوده په غرونو کې
شنې زرغونې پلنه خپل لمن کړه په رغونو کې
زانګې امېلونه شوې دوريځو ګرېوانونـــو کې
وينښې تراني شوې د سيندونو په رګونو کې
جګ يې دشپنو له شپېلۍ نوي فريادونه کـړل
وينښ يې دبزګر په زړه کې نوي ارمانونه کړل

ستر ګو دآسمان کې غلي غلي ګردشونـــه دي
غبرګ دوريځ کې لا پراته سل تنـــــدرونه دي
نن سبا له خاورو راوتونکې سره ګلــــونه دي
سم له يسرلي سره دنوي ژوند فکرونــــه دي
جار دې شم وطنه له دې نويو شازلمـــــو سره
ته دې تل ژونـــدی يې له دې ګڼـــو ولسو سره

کابل ۲۲ر۲ر۱۳۴۴

## دشهید ا تل په یا د

را ما تې بیا په غـرونو دوریځـــو قـــا فـــلې دي
خورې په سپینو وریځو کې دلمر ژیړې شـــغلې دي
په شنه آسما ن کې رغړي په ما لوچو کې لمـبې دي
په ځمکه او آ سما ن کې درنګونو هنګـــــا مې دي
چې ته یې لېو نی وې هغه وریځې هغـــــــه شپې دي
خـــــوزه یې ستـــا په ویر کې پـــــه ژړاوو تېر ومه

سازونه دسیندونو دغم سا ندې دي خــــــپرېږي
باران دغموا ونښکې دي په ژوند با ندې اوریـږي
بریښنا د غضب توره ده خوارا نوته ځلیــــــږي
رنګینې ترانې چې زمـــــــا له زړه نه را جګېږي
سازونه د دردونو دي له ما ســـــــره ژړیــږي
هر دم چې تا د ستـــــر ګو په لېمو کې ګـــرزومه

ته لاړې زه دې پریښووم اوږدو اوږدو غموتــــــه
دسوړ ژوندون بې خونده او بې رنګه وریځو شپوته
غمجنو، دردېدلـو، نا کرا ره اند یښنـــــو تـــــه
داغونو تــــه، آفا تــــو، اوسېلیـــو ، او رنځــو ته
بې درده حوا دثو ته ، توفا ن ته، غرقېــــــد و تـــــه
یوا ځي به دالا ره وایـــــه ځنــــــګه یرې کـــومه

د ژړه په وینو نیال شوې ما وې رابه وړې گلـــونه
خواره به کړې په باغ کې د ځوانۍ ښکلي رنگونه
بیا ستر به شې، اوچت به شې، خپاره به کړې ښاخونه
تر سیورې به دې پټ شي لمر وهلي خوندې ورونـه
خو وای چې بې تعبیره شول زما خوا ږه خوبونـــــه
برباد شوې زمـــــا هیلې، جوړ به نشم له دې غمه

چې سور کم ستا په ویر کې د ماتم سوي سازونه
سپــــاره کمه په گوتو د غمــونو شهبـــــــازونه
را رسي مې غــــوږو ته ستا له خـــاورو آوازونه
«ملــگریه مخ په وړاندې، گرندي کړه گدازونه
در واخـــله زمـــاله خـــاورو غلي شوي پروازونه
زه خـــــاورو کې هم هغه سپـــاهي یمه چې ومه»

هــــر پل چې زه په مینه دوطـن کې جـــگومه
هر شعر او ترانه چې خپـــلو خلــکو ته لیکمه
هـــر شور د آزادۍ چې په اولس کې خپـرومه
هر بنـــداو زولنه چې له لاسونـــــــو ماتومه
یا ستړی شم له جنـــگه چیرې دمه جـــوړومه
ده خیــال کې رن سره یې په هــــر دم دې یادوه

کابل ۱۱ر۲ر۱۳۵۷

## پا څېره وطنه

را ووړ انقــــــلاب خلــــکو ته زېری د برې
ختمه شــوه وطن کې تل لپــــــاره بربـــرې
رپي په آسمــــان کې سور بیرغ د جمهورې
ودرېږه، په پښو شه، درنه جــــا رشه زر ختنه
پاڅېږه وطنه
پا څېږه وطنه

را غله ستـــــا درشل ته دتا ریــــــخ انقلا بونه
بند په بنـــــد متېږي ستا د مټو ځنځیــــــرونه
نیسي انقـــــلاب لا نوي نوي سنــــــګرونه
ستــــا په پا که خــــــا وره د بریو رڼا پلنه
پاڅېږه وطنه
پا څېږه وطنه

ته که اوس پا نه شې بیا به چېرې پا څېدی نشې
چېرې که را پا شې بیا به ځا ې ته رسېدی نشې
دې تورې تیـــا رې نه بیا دبا نـدې راوتی نشې
زه دې قربــــــا ني شم را او چت شه زمــا تنه
پاڅېږه وطنه
پا څېږه وطنه

ډېره دې اوږده شوه زمانــــه دوید بد و
سر دې را اوچت کړه د کــــلونو له خوبو
خوب چه ډېر ژور شي ترېنه جوړه شي مرگو
زړه مې ویلـــي شوی اوس تویېږي زمــا ینه
پاڅېږه وطنه
پا څېږه وطنه

پا څه چې آزاد شي ورمېــــږونه له سجدو
ولوېږي لښتی دغــــلامـــــا نو له غوږو
لرې شي سپـــــکیا دلعنتــــــونو له سږو
پلنه که په لــوڅو ددې غـــــرو باندې لمنه
پاڅېږه وطنه
پا څېږه وطنه

سوله، آزادي، او عــــدالت زموږ شعــار
کــــار او آبادي او پر مختـــگ زموږه لار
ستـــــا رالېږده زمـــوږ د نسل افتـــخار
مخ ته دې راغلې اوس پر یکــــړونې ازموینه
پاڅېږه وطنه
پا څېږه وطنه

کابل ۲۷ر۴ر۱۳۵۲

## اې د نوي عصر باد ه

اې د نـــوي عصر باده، را چلېږه را چلېږه
اې دژوند ځلانده لمره، را ځلېږه را ځلېږه

په دې وچـــو شاړو ځمـــکو
را اوچت تـــازه ګـــلان که
له دې لو څــــو وچو غــرونو
را اوچت ويـــده بـــازان که
ګړنـــــدی شه او چټېــــږه
اې د نـــوي عصر باده، را چلېږه را چلېږه
اې دژوند ځلانده لمره، را ځلېږه را ځلېږه

ددې خـــاورې هـره لوېشته
هم فردوس دی، هم جنت دی
هـــــر يو بوټی، هـــره تيږه
همدولت دی، هم قــوت دی
خوب دې بسدی، را ټپـــږه
اې د نـــوي عصر باده، را چلېږه را چلېږه
اې دژوند ځلانده لمره، را ځلېږه را ځلېږه

اې پښتـــو نه ، اې ازبــــکه
اې دغـــــرو هزاره گـــا نو
د افغـــــا ن لويه ټبـــــــر ه
له تـــر کمنه تر تاجــــکه
در واري شمهـ يو کېـــر.ه
اې د نـــــوي عصر با ده، را چلېږه را چلېږه
اې دژوند ځلانده لمره، را ځلېږه را ځلېږه

دخوښۍ سندرې سر کړئ
کار گــــــرا نو، بز گـرا نو
ســــره يو شئ ســـره يـوشئ
دبد لـــــــــــون پيغمبـرا نو
که مې ورور يې را رسېـــر.ه
اې د نـــــوي عصر با ده، را چلېږه را چلېږه
اې دژوند ځلانده لمره، را ځلېږه را ځلېږه

کا بل ۲۰ر۵ر۱۳۴۳

## رښتيني مينه

میــــنه څه ده؟ تر وطنه جـــــــا رېدل دي
په ســـــــرونو داورونـــــــو چـــلول دي
سل کـــــــرته په دې لار کې پرېوتـــل دي
پر مختګ دی، خو ځېدل دي، رسېـدل دي

## دا وطن

دا وطـــن، ودان وطـــن
دا دلوی افغـــــان وطن
دا په مـــورږه گران وطن
خـــــاوره دغیرت ده زلـــزلې لري توفـــان لري
غــــرونو کې بازان لري

شور يې په سیندونو کې
تاو په لویو غرونـــو کې
مینه يې په زړونــــــو کې
خیـــــژي له سینې د هر افغـــانه ولــــولې لري
بلنـــــدې لمبې لــــــري

اوسي افغــــانان پکې
نسل قهـــرمـــان پکې
واړه ســــربـازان پکې
څــــاري يې دغرو اوچت سرونه له آسمان سره
ننګ او له ایمان ســـره

بادلري ، بربښنالري
شور لري، غوغالري
ژوندلري، بقا لـري
هره لــــو ښته خاوره يې کعبه ده افغـــــانانو ته
دې نویو ځــــوانانو ته

## د شهباز سرود

دماکسیم گورکي اثر

گورکي ددې حما سې د هستولو لپا ره له یوه فلکلوري روایت څخه کا راخیستی او دغه مسجع رزمي تلپا تي نثر يې دهغه وخت دروسیې انقلابي نسل ته وړا ندي کړ. ما دپښتو شعر دزرمي خصلت او حما سي کرکتر د آسا نتیاوو او تصویري غنا په مرسته په شپږ. کرښیز حما سي نظم وژباړه او دهغه له صحت او رسندويي څخه را ضي یم.

څه چې ما دشعر دبڼې او منځ پا نګې د سلامتیا درعایت لپا ره دګورکي پر متن زیات کړي دي په لیند یو کې مې نیولي تر څو داصلي متن اوترجمې ترمنځ د تطبیق او مقایسې په مها ل ستونځه را منځ ته نشي.

د بدبويي او نمجنې درې خوا کې
و یده شوي و یو ما ر دلمر شغلو ته
هلته کته څپې ځغا ستې پر کمرو نو
پاس له غرو نو خوړ را وتی و بېلو ته
تر ځګو نو لاندې پټ په منړو منړو
تويېده په شور دبحر شنو څپو ته

پاس په لوړ آ سمان کې لمر په ځلېدو و
غرنو ګرم او سېلي لېږل فضا ته
د درې په تاو راتاو کې دخوړ چيغو

غږا وه دغوسې ساز دبحر خوا ته
سر کش خوږ په شور او زور کې رغړولې
په بستر کې لويې تيږې منتها ته

دزورې درې خوا ته له آ سما نه
را گوزار شو په ډېرو يو شهباز
ښی وزر يې مات ، په مخيې خورې وينې
لکه ولگې په جنگ کې هوا باز
کته، ډېر کته، دشنې درې له منځه
رسېد ه را دځگن را ده آواز

قهر جن څپانده سين دغرو له منځه
ننو تی په کو گل د سمند ر و
هره پوله د څپو به چې را تلله
د ساحل له لوړو غرو سره يې سر و
زخمي باز لکه سپايي وروسته له ماتې
غوړولی پر کمرونو خپل وزر و

لکه او سپنه چه سره شي، تودو پر ښو
پښې وسوې دمات شوي زلمي باز
په وزرو کې يې دغچ لمبه پيدا شوه
له غوسې نه يې اوچت که يو آواز
چې کاته يې دقوت مخه يې نشي
ده وزرو کې پې مات شوی دی پرواز

د فضا زوی چې نا مېند له الوتو شو
په حسرت يې يو ځل و کتل آ سما ن ته
زړه یې ډېر غو ښتل چې یو ځلې بیا جګ شي
ځا ن غور ځا ر کړي نا پا یا و نیلي جها ن ته
مګر دا یوا ځې هیله وه ، یوه هیله
یوه اسره دتوانېدو یوه ناتوا ن ته

وزر تاتی باز چې وخو ځېد په تیږو
مار له وېرې نه را الري شو کنار شو
مګر پوه شو ژر چې عمر یې ډېر لنډ دی
ور نیږدې شو، ورته ودرېد ، په وینا شو
څه در شوي؟ نه چې مرې بېچا ره باز ه؟
هو! زه مرمه، راته ښکا رې دا مې وا رشو

ما په ویاړ او آ ز ادۍ کې ژوندون تېر که
له دښمن سره بېبا که جنګېد مه
بخت مې ولید له آ سما ن سره آ شنا شوم
ته لیدا ی نشې هغه تر وروستي دمه
اې دخاورو بندیوا نه ، اې غریبه !
اې بد مرغه اې محرو مه له عالمه !
آسما ن څه دی؟ خالي خونه، تش ماحول
دا ځای ګرم دی، نمجن دی، زه او سېږم
مار دا وویل شهباز ته خو په زړه کې
په خندا شو اوډاډه شو چې پوهېږم :

ښویېدن په ځمکه څه ، الوتل څه دي
عاقبت را ته معلوم دی نه غولېږم

عاقبت به واړه شي دخاورو خاوره
دغه واړه به په ځمکه کې ویدېږي
زړور شهباز نا څا په ټان وخوړ
ولاړېږي شا او خوا یې نظر لوېږي
هلته ګورې چې دتور تنګي د ننه
له یوه کانې نه څڅوبې را بهېږي

هواد په وه، بد بویه ، زهر جنه
شهباز چیغې کړې په ټول قوت له درده
کا شکې والوزم یو ځلي بیا آسمان ته
کسات وا خلم دخپل زخم له نامرده
خصم کېکاږم دخپل تېر په وینو
مادر جار کړې اې لذ ته د نبرده

مار په فکر کې ډوب لاړ ویل یې ښایي
د آسمان ژوند به تر ځمکې ښایسته وي
ور نیږدې شو آزاد باز تې هسې ووې
که دې زړه چېرې پرواز پورې بسته وي
د ژورې درې څنډې ته نیږدې شه
ښایي وي چې په وزرو کې دې ځه شته وي

ځان غورځار که چې آزاد دې شي وزرونه

تا کړي پورته يو ځل بيا نيلي آ سما ن ته
يوه شببه په خپل عا لم کې ژوندون وکړي
تا اوچت کړي دخيا لونو خپل جها ن ته
په لړزه شو با ز مغرور آوازيې ويوست
په نمجنو تيږو وښويېده پا ڼ ته

د پاڼ خوا ته يې وزرونه سره خلاص کړل
يوه ژوره سا يې را ښکوده سينې ته
ستر ګې وځلېدې، ځا ن يې را ګوزا ر که
لکه تيږه رغړېده ښکته درې ته
بڼې وشکېدې ، وزرې يې شوې ما تې
لاندي ولودوېد دسېلاب خونړۍ خولې ته

سين يې پرې ميځلې ويني بيا يې يو ووړ
د ځګونو په کفن کې سمنـــــــد ر ته
د درياب څپو دغم په ا نګــــــا زو کې
غږولې دغم سا ندې لرو بر تــــــه
د اوبو برجونه اوښت يو پر بلـــــــه
د شهباز نښه رانغله بيا نظـــــــــر ته
مار په پروتې په اوږده فکر کې ډوب شو
دشهبا ز په مر ګ، په مينه د آ سمـــــا ن
بيا يې هسک نيلي ته واړولې ستــــر ګې
(چې همېش په کې نظر وي سر ګردان)

آ خر څه لیدل دې مړه شهباز په دې کې
ددې بې پو ښه فضا په بېکـــــــرا ن ؟

هم جنسا ن دده په څه وروسته له مـــــــر گه
غولوي روح و آسمان ن ته په پـــــــــرواز
ځه شي، گورې دوی هلې، ماهم کوی شوی
چې ځا ن پوه کمه ددې میني پـــــــــه راز
کم او ډېر آسما ن ته زه هم الوتی شـــــــــم
دا یې ووې یو څه والــــــــووت(لکه باز)

ځا ن یې تاو که بیا گوزار شو پاس هوا ته
دپټارې غوندې و ځلېد په لمــــــــر کې
خزند ه کله پیدا دی الوتو تـــــــــــــه
لا پخوا یې دغه فکر نه و ســـــــــر کې
ښکته ولوېده په تیږو خو مړ نه شـــــــــو
په خندا شو له خپل ځا ن سره کمـــر کې

وې : آسما ن ته دپروا ز جذ به دغــه ده ؟
خندنیو الوتونکو، په لوېـــــــــد و کې !
خاورې نه ده پېژند ل یې پکې تنګ دي
لوړ آسمان ته هڅه کړي په الوتـــو کې
په سره دښته دآسما نکې ژوندون غواړي
خالي ځاي دی بس رڼا په خوربدو کې

لیکن هلته دخوړلو غذا نشته
نه ژوندي تن ته ټاټوبی د تکیې
نو دا کبر څه ، رټل دڅه لپاره
پټوي پې د وحشي هوس لمبې
چې خپل عجز دژوندون په کار کې پټ کړي
خندني مرغان لري هسي اسرې

نور نو زه ورته وښیاریم... نه غولېږم
زه خبریم ... مالید لی دی آسمان...
هلته والوتم، ور جگ شومه په خپله
را لوېده مې هم ده ځان کړل امتحان
مگر مات نشوم (ژوندی ترېنه بهر شوم)
لا مې ټینگ شو پخپل ځان باندې ایمان
په هغو چې دغه خاوره گرانه نه ده
پر پړده وکړي له موهوم سره ژوندون
ما پیدا که حقیقت ، زړه به کې نږدم
هیڅ هېڅکله د مرغانو په لمسون
زه له خاورو نه پیدا ، په خاورو پایم
مار چکۍ شو په یوه تیږه په ویاړون

ځلیده دنور ځپو لا ندې دریاب
موج ټکرې لگولې له ساحله
دځپو په هیبتناکه غوربدو کې
دزړور مارغه ستاینه غږېدله

دڅپو له ګوزارونو لړزیـــــد لې
دساحل ځوړندي تیږي تر کو ګله

رپږدېده آسمان د تالنـدې لـه زوره
غږاوه یې دجنګي مارغــــه ســرود
د زړورو لېونتوب او جنون ستــایـو
د زړورو لېونتوب د ژونـــدون دود
اې زړور شهبازه وینې دې شوې تویې
مګر رابه شي یوه ورځ چې دغه رود...

...داد ستاد ګرمو وینو رود یاغي شي
او روڼا نه تیاره لار شي د ژونـــدون
او په ډېرو زړورو زړو کې ویښ کړي
درنځا او آزادۍ دمینې یـــــــون
(سر چې کته حا دڅې ته شي سر نه دی)
(مقدس غرور به تل لري جنـــون )

ته خو مړ شوې مګر یا د دې ابدي شـــو
د زړورو په ستاینو ســــــــرودو کې
لکه یون د آزادۍاو نور پر لـــــــورې
یا ژوندی مثال(په چاره دننګـــــو کې)
د زړورو لېونتوب او جنون ستایــــــو !
(یاد ګارونه دې ژوندي وي تل په زړو کې)

کابل............

## د هسکځ پر پلاز

که عاشق د آسمانونې هوا باز شـــــه
له خوب وړې خاورې پورته شه پرواز شه
د تپوس په تقلید مه کېنه په مـــــــځزګه
په آسمان دې پلاز وتړه شهباز شـــــه

## شهبازي کوڅرې

سسته مځکه دمرچې دباور نــــه ده
ځاله مه ړده دمېږانو، په تلکـــــــه
که در کېږي د همت وزر آزاد کـــه
څوک ختای شي بې کوڅروتر فلکـه
اې د شپې لاړو یو

توره شپه روانه ده اوربېږي بارانونه
تالنده غوربېږي، بربېښنا کاندي غابش چیچونه
سوړ باد لکه ورږی لېوه،
وربځي لکه ترهنده رمه ځغلي په غرونه.
باد په زړو دړو غږوي دچیغو ډول،
ونو لېونۍ نڅا سر کړې ده، څرخېږي.
ښکاري دبرېښنا پرقوته:
بوټي لکه سترې چرګان،
ښکته پورته اچوي وزرونه او ستمېږي.

کوکې د سېلاو، تیاره دمرګ دورېځو ،
شور د باد، شرنګی او شرهار د بارا نونو،
ګړز او ګړوز دوچو ځانګو،
سام دغرونو،
ازمویې زغما دپولادي او زړورو زړونو.

اې زموږ پر سر باندې چاپېره توره هسکه !
څومره چې پر تا باندې پوره وي هومره وس که
وچرموړه غرونه توفاني یې که،
ولمسوه ورېځې ارماني یې که ،
زما وطن دپېښنو قهرمان دی، قهرمان ښه دی
زتا ځاله ټاټوبی د توفان دی، دتوفان ښه دی .

اې دشپې لارویو ! تاسي اورئ دغه چیغي،
دا دتوفان کریغي ؟
ولې ورته ګورئ په سړه سینه چې یوسي
دا بې ژبې پسونه په تیاره کې سیلاوونه،
پریوزي په رمه دقهر او کرکې لعنتونه ؟

کابل ۱۵ر۴ر ۱۳۵۲

## تا ریخ

څه دی ؟ تا ریخ څه دی ؟
یو بها نده ننداړتون دی !
کله توره شپه ، کله روښا نه سبا وون دی
کله په پرون کې دسبا مخکینی یون دی
کله دسبا په شونډو تاپی دپرون د ی
کله دفرهاد په زړه کې تپ دبیستون دی
کله دلیلا په انځور سیوری دمجنون دی
کله په یوه څاڅکي کې دننه یو بدلون دی
کله په نړۍ را چاپېر شوی شوا خون دی
بې له کوم ابهامه دمهال جبري قا نون دی
ګوا کې په زما ن کې دا نسا ن حتمي بدلون دی

کا بل ګذرګاه ۲ر۸ر۱۳۴۰

د پښتو ژبې او ادب پیاوړي پالونکي محمد دین ژواک د هجري شمسي ۱۳۵۴ کال په ژمي کې سلیمان لایق ته دلاندي استول شوي شعر پر سر باندې ولیکل:
« دا شعر د افغان اولس انقلابي شاعر رفیق لایق ته ویل شوی دی. ژواک ۲ر۱۱ر۱۳۵۴ »

## شاعره !

شاعره خوله دې جار شم، دژبې اور که خــور
نغری سوړ شوی گوره، دمینې شور که نـــور
هله دې مړو زړونو کې، دعشق سر کشه لمبه
بله کړه، بله یې کړه !دا په تا پور دی پـــــور

ستا تر گرمي واري شم، دغه گرمي خوره که
ستا دسینې په تل کې، یوه نړۍ اور ستـــه اور
ته دمستیو دریاب ، دتوفا نونو زانگـــــــو
ستا په ژور نظر کې ، دهیلو کورشته کــــور

نهیلې هیلې ته لار ، دویشېدو وبنیــــــــــه
دې ماتو خولو ته هنر، دغږېدو وبنیـــــــــه
ډېوه دمینې شوه مړه،په کور تیاره خوره شوه
سپرغو دمینې ته چم، دخورېدو وبنیـــــــــه

تا به په زغرده ویل: «ژوند کې ګداز دې وي
ولس لره لاره دې وي، انجام آغـــاز دې وي
ننګ او غیرت دې وي، یاد ګار دتورو دې وي
ژوندي ملت لره ، دغه اعجـــاز دې وي »

ستا سره خواله ضرور ، ستا سره چاره شته
ته خو نظر نظر يې، مله خو دې ياره شـــــته
د ولس باور دې مل دی، دځوان ويسا په تـــا
ستا دمغزو په ولو کې ، هدف ته لاره شتـــه

ستا تر قلم لوګی شه ، دا دهنر تاجـــــران
ستا تر نظر قرباني،دا سوداګر شاعــــران
ته په پېچليو لارو، دشو ګيرونو ويانــــد
تا نه رڼا اخلي ،دتيـــارو لارو روان

دجار قلم را اخله ، مينه توده کړه تـــوده
رګونه سست ښکاري، هڅه سړه ده سړه
دغه دمينې کورګی، درنه بې مينې نشـــي
دمړو رګو په تل کې، تونده لمبه شه لمبه

ژواک صاحب ته ځوابي شعر

## ګوره شاعره

ګوره شاعره، تا ستا یلی یمه
زه دستا یلو نه یم
دیا دولو نه یم.

زه یو اسیر یم، اسیر
د تدبیرونو اسیر
دځنځیرونو اسیر،
زوړ بندیوان په نوي بڼه غاښ چیچونه کوي
موږ ته ګواښونه کوي
په تیاره شپه کې په لارویو یرغلونه کوي
زه ورته ګورم .
زه ورته ګورم، رنځ ستر ګې مې سیلونه کوي
لاس مې تړلي،
خوله مې بنده،
یو بې دمې شاعر،
یو دزړو منسوخو شویو قدرتونو اسیر
دځنځیرونو اسیر
او دخپلو ملونو اسیر.

ما دلایق په نوم کې ،
ددې سر کښې نامنونکې ککرۍ لپاره،
دټول جهان له رنګنیو څو ګلونه جوړ کړه،
په دې ګلونو کې مې خپله خود خواهي ونغښته،
له دې ترکیبه مې یو څو تاوده شعرونه جوړ کړه
په ځان عاشق شوم
دغه ځان ته مې عرشونه جوړ کړه
غلط مین شوم
خپلو پښو ته مې دامونه جوړ کړه،
نوزه لا پخوا یم ښویدلی
ښویوې مې ولې ؟
دا شرموې مې ولې ؟

زه که شاعر یم ، که ساحریم
داورونو نه یم
ما تش کاغذ کې داورونو سنګرونه جوړ کړه،
ما له شعرونو او حرفونونه پوځونه جوړ کړه،
په ترانو کې مې مزدور ته جنتونه جوړ کړه ،
خولا تراور لاندې مرچل ته روان شوی نه یم
څا ځکی یم، څا ځکی
توفان شوی نه یم !
زه لا دخلکو په ننګو کې قربان شوی نه یم !!!

زه غواړم ټولو ته ځان لوڅ کړم او په خلاصه ژبه
دزیار ا یستونکو مخکې
له خپله ځانه سره جنګ و کړم،
له ځانه ووزم او په خلکو باندې ننګ و کړم ،
بیخي آزا د شم ، آزاد
دا سي آزاد شم ، چې په کشلې توره
د کبر جن شعر په عرش باندې غور ځنګ و کړم ،
نو ستنوې مې و لې
او زما له ساړه رغلي نه ولي ولي
دزر دشت اور غواړې
رسوا کوې مې ولې
او دا شرموې مې ولې ؟

که زه مضبوط شومه،
تکیه شوم
او جلا نشوم ،
په توفانو نو کې لار ورکی او خطا نشوم،
دلوی ارمان لپاره
دسره انسان لپا ره
په تیر یدو نکو سړو شپو کې وار خطا نشوم،
او دزیا را یستو نکو له سنګره را په شا نشوم
بیا به دېر خي څاڅکی نه یمه توفا ن به یم
نوی جها ن به یم

که توفان نشوم، جهان نشوم
یوه قطره خو به شم
د اوږده فصل دانسا ن یوه نقطه خو به شم
یوه ا سره خو به شم
دسختو لارو د کاروان یوه نغمه خو به شم
دجنګیالیو یوه ناره خو به شم
له خپله ځانه خو به ووزم ، وارسته خو به شم ؟
ځکه دې څا څکی شم !
څاڅکی دې شم، شم دې
خو څا څکی دتوفان دې شم !!
له لوی دریاب سره به یو شم او روان به شم
جز د جهان به شم
دخلکو لار کې به منظور شم او قربا ن به شم
خو لا تر اوسه پورې
زه یو ا سیر یم ، ا سیر
دتدبیرو نو اسیر
د ځنځیرو نو اسیر !!!

کابل ۲۹ر۱۱ر۱۳۵۴

د محبوب شاه سنگر ډالۍ شوی شعر

## اورژبي شاعر ملگري لايق ته :

زړه ته تر هر چـــــا را نيږدې شاعره
يه دسپيپيڅـــلې عقيــــدې شاعره

زه درته څـــــو دزړه خبـــــرې لرم
سرې، تودې ،خوږې، ترخې شاعره

ته خــــو شاعر يې دغمـــــونو شاعر
دبيـــوزلانو د رنځــــــــونو شاعر

دزيار ايستونکــــو د ربـــړونو شاعر
د کړيکـــــو، چيغو، فريادونو شاعر

ته د هــــوډونو او ننــــگونو شاعر
زمـــوږ د شخړو او رزمــــونو شاعر

ته د تاريـــــخ د ترخو مـــا تو گواه
ته د برمــــــونو پرتمــــونو شاعر

زه او ته دواړه بيــــــد ياني بو تې يو
اغـــزي پرست يو ، گلپـــرست نه يو

موږ له هر څــــلي نه بت نه جوړوو
موږ بت شکــن يو، بت پرست نه يو

ته د بېد یا په ساړه زړه کې کړې
د راروان ژوندون تاوده تخمونه

زه هم دې شاړو ته او به سیخوم
چې زرغونه شي ستا دلاس ګلونه

آخر به وخوځي ویده بادونه
په بدمستۍ په وطن بانديې

آخر به وسپېړي بېوزلي غوټۍ
سور لمر به خور شي په چمن باندې

لاره اوږده ده، کړلېچونه لري
خو ته په منډو کې ستومانه یې

پښې دې یووړې د سارا ډبرو
خو ته په مخ ځې پښېمانه یې

واوره زما دا پښتني خبره
شاعره ځو به، خو په مخ به ځو

که په لېمو او په خاپوړو تګ شي
ځان به منزل ته خامخا رسوو

ته چې لوی غم لرې، لوی زغم لرې
دلويې لارې تګ لوی زغم غواړي

تا دا کچني غمونه، نه غموي
ستا پهلوان زړ ګی، لوی غم غواړي

ته چې دوینـــو په لـــمړلې لار ځې
له خپل هدف څخه مخ نه تاوه وې

د قربانۍ په وخت کې جګې جګې
دا په تا پوردی ما به نه هېروې !

جلال آباد ۵ر۶ر۱۳۵۶

د ادب او سیاست د ډګر خوارۀ ملګري محبوب شاه سنګر ته ځوابي شعر:

## محبوب سنګر ته

بیا د ختیځ د ننداړو له لوري،
د لوړو څوکو د سرو شویو کنا رو له لوري،
د جنګیالو له لوري،
زموږ د خلکو له سنګره آوازونه راځي
سره دریا بونه راځي.
ما لا پخوا وې: د مړه شوي تنا ره له ایرو
او د پلرو له سرو شویو رغلو،
د یوې ژوندۍ سپرغۍ له لوري
د عشق د تبې په شان،
نویو رغلو ته پیغامونه راځي
او د بلېدو لپا ره
نوې بټۍ ته د اورونو دریابونه راځي.

ما لا پخوا وې چې زموږه مور به
نوي زمن وروزي
دوی به د ګلو پر ځای
د نازولو پر ځای
لمرو وهلې سپاندې
او د غرو رغونو د وحشي بوټو چمن وروزي.

ما لا پخوا وې چې په تورو شپو به
او دتیا رې په غلو به،
په ورکو لارو، سړو د ښتو،
ویدو شویو غرو به:
روڼ او آزاد او طلایي لمر یرغلونه وکړي،
وطن به ونا ځي تاریخ به یې سیلونه وکړي.

ما لا پخوا وې: دا لوېدلي کسان
دا ګرېوان ځیري، ببر شري، خوړل شوي کسان
دا درنځونو زمن،
د مرضونو زمن،
دا د باجونو، بېګارونو، تاوانونو زمن
دغه د لوږي، سپکاوي او کړاوونو زمن
دا دغمونو زمن.
دا به ژوندي شي،
دا به وخاندي او ښاد به شي،
دا به راویښ شي، دا به پاځي او آزاد به شي.

د غرو له شانه طلایي تارونه
په تورو وریځو او په ځوکو باندې
د راختونکې لمر شغلې خوروي،
په تورو تالو، سړو پر ښو باندې
سرې پلوشې خوروي،
ځکه د تاسي شاعر

د اور د خدای مخې ته
د هر کلي لپاره
اور غور ځوونکې ترانې خوروي !

کابل ۲۰ر۶ر۱۳۵۶

## سپېدو ته

سپېدو ، سپېدو، سپېدو !
په تیارو غرو کې د رڼا د خوریدو سبدو
په وطنپال زړه کې درزم او حما سو سپېدو
سپېدو، سپېدو، سپېدو !

یه د غمجنې شپې برستنه کې ویدو سپېدو
یه د آسمان توره کاسه کې د شیدو سپېدو
یه تورو لړو کې د لمر دخندېدو سپېدو
د آزادۍ د خورېدو سپېدو
لمنې سرې کړه !...

لمنې سرې کړه، دا تیارې لمنې
دا یخ وژلې، دا بې روحه، دا سړې لمنې
دوحشي غرونو ویدوونکې بې اسرې لمنې
پېړۍ پېړۍ دجگو څوکو سړو سیوروته پرتې لمنې
شاعرو ستر گو ته ښکاره کړه دا سپېرې لمنې
چې ستا په وړانگو کې سرې شوې لکه سرې لمنې
اې دانسان دویښېدو سپېدو
سپېدو، سپېدو، سپېدو !
ته چې را خېژې دتیارې څښتنان ورک شي، ورک
د رڼا یې دښمنان ورک شي ورک،
دا چیروونکې دېوان،

دا دانسا ن په وینو روږدي لېوا ن ،
دا دتیارو حا کما ن،
دا د نړۍ او سرېتوب او دوطن غلیما ن ور ک شي، ور ک
اې دنړۍ د ویښېدو سپېد و
د امېدو دترانو سپېد و
سپېد و، سپېد و، سپېد و !

ته چې را اوړې د آ سما ن په کنا رو سپېد و
یا سرې وربځې تودوې په سرو لمبو سپېد و
یا سینه سرویې دبامیا ن په مړو ایرو سپېد و
یا ننه با سي نوې سا په هدیرو سپېد و
یا د وطن په غم لړلیو سردرو سپېد و
زه درته ګورم ...
... زه درته ګورم نندا ره دې کوم
ستا د راتلو ، د پلنېدو ، د لمرېد و سپېد و
د برېد و سپېد و
سپېد و، سپېد و، سپېد و !

شپه که تیاره ده وېروونکې نه د ه
د اوږدو لارو ـ لاروو ته ځورووونکې نه ده
کږه وږه ده ، توفاني ده، خو د لورې ورکوونکې نه د ه
یه خا مخا په تیارو غرو د پلنېدو سپېد و
زموږ آسما ن ته د سره لمر د را ختو سپېد و
سپېد و، سپېد و، سپېد و !

گوره دلمر گلونه، گوره دلمر گلونه
آسمان سره کړي دسحر گلونه،
له ورایه ښکاري چې غوړېږي لر و بر گلونه
د سبا وون په سرو وريځو کې دلمر گلونه
د پاڅېدنو، یرغلونو اوظفر گلونه
د ځنځیرو دماتوونکې اکتوبر گلونه
گوره دلمر گلونه ،
گوره دلمر گلونه !

هاغه دي وغوړېدل ،
هاغه دي وغوړېدل ،
ماته يې عطر راځي،
زه يې رنگونه وینم ،
اې دگلونو رنگوو سپېدو
داکتوبر دخورېدو سپېدو
سپېدوو سپېدو ،سپېدو !

کابل ۱٦ر۸ر۱۳۵٦

دا شعر د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند څورلسم تلین ته چې گوند یا ن یې د وحدت تلین بولي، بخشل سوی دی.

## زیری

زېری، زېری، زېری چې سینـــونه سره یو شوو
ځمکه سره یوه شوه ، او چت غرونه سره یو شوو
پورته په آسمـــــان کې تنــدرونه سره یو شوو
ښکته په لښـــکر کې سنــگرونه سره یو شوو
متې او منـــــگولې او لاســـونه سره یو شوو
زړونه ، دمـــاغونه، ځـــگرونه سره یو شوو
هیلې ، امیـــدونه او عشقـــونه سره یو شوو
فتحې سره یو شوې ، شـــکستونه سره یو شوو
وخاندئ ملگرو
وخاندئ ملگرو

ځـــکه سره یو شوو ، ارمـــانونه سره یو دي
زمـــوږه باورونه، ایمـــانونه سره یو دي
لاره ســـره یوه ده، منـــزلونه سره یو دي
توري او ننـــگونه ، غیـــرتونه سره یو دي
تالنـــدې ، برېښنـــاوې، توفانونه سره یو دي
زمـــوږه زولنې او زنـــدانونه سره یو دي

زمــــوږه ځنځیــرونه او دا رونه سره یو دي
زمــــوږه په مرګـــونو کې قبرونه سره یو دي
زمــــوږه په بزمـــونو کې جامونه سره یو دي
پورته کړئ جامونه
پورته کړئ جامونه

راشیه ملــــګرو چې جـــامونه سره جګ کړو
راشئ په مـــر چه کې آوازونه سره جګ کړو
خلـــکو ته ورننوزو لاسونه سره جګ کړو
وخوځــو په غــرو کې غیرتونه سره جګ کړو
لاړ شو کار خـــانو ته غضبونه سره جګ کړو
خلــک او وطن او هـــدفونه سره جګ کړو
کـــلي او کیږدۍ او کنډ رونه سره جګ کړو
پښې سره مضبوطې کړو، سرونه سره جګ کړو
جا ر شو یو تر بله ، بیـــرغونه سره جګ کړو
دا ده زموږ لاره
دا ده زموږ لاره

پرېـږدئ چې د خلــــکو آوازونه سره یو شي
پرېـږدئ چې سرکشه دریـــابونه سره یو سي
پرېـږدئ چې بادونه سېـــلاوونه سره یو شي
منـــډې سره یو شي ، یرغـــلونه سره یو شي
ورېځې او بـــاران او تنـــد رونه سره یو شي

مـــاتې سره یو شي ، ذلتـــــونه سره یو شي
پرپړ دئ چې ننــګونه او شرمـونه سره یو شي
زمـــوږ دزړو دننه سره اورونه سره یو شي
دغه ناصـــور شوي پرهــــارونه سره یو شي
وینه سره یوه شي ، او رګـــــونه سره یو شي
دا دی زموږ عزم
دا دی زموږ عزم

داد کــــړاوونو ، عـــذابونو ، بېماري وطن
دا ددروېزو ، دمحتــــا جیو او خواري وطن
دا دبـــدنامیو، ذلتـــونو او خدري وطن
دغه د دېــــوانو او بـــــلاوو او پېـــري وطن
دغه دمـــــرګونو ، تباهیـــو او تېري وطن
دا دبدخشـــــان او کنـــدهار او دهري وطن
دا به ګلستــــــان شي د کارګـــرو دبري وطن
دا به ښکلی کور شي د ولسونو د وروري وطن
ګوا کې د خـلاصون او آزادۍ او سروري وطن
موږ به بریالي شو
موږ به بریالي شو

هر چېـــرې چې یا ستیه ملګرو په ملکونو کې
کلیو ، کـــروندو کې، په درو یا په ښارونو کې
یاد انقــــلاب د سرغندوی په سنګرونو کې

یا د استبــــداد دزنـــدانو په تورو خــو نو کې
زېرې مې در بانــدې تورې یو شوو په ننـګونو کې
یو شوو په ننګونو کې او یو شوو په جنګونو کې
لوړ مـــو شوو سرونه دننـــګیالو په سرونو کې
وم ځلېــــده توره د تور زنو په صفــــونو کې
جګ مو سوربیرغ شود کارګرو په ګوندونو کې
دا زموږ ارمان و
دازموږ ارمان و

کابل ۱۰ ر ۱۰ ر ۱۳۵۶

# دکتاب فهرست


| موضوع | مخ |
| --- | --- |
| د نور محمد تره کي يا دداشت | لمړی |
| د اطلاعاتو او کلتور دوزير يادداشت | دوهم |
| د امين افغانپور سريځه | څلورم |
| راتلونکو ته | ۱ |
| وطن ته | ۳ |
| خلکو ته | ۴ |
| دخودۍ يون | ۵ |
| دپسرلي آواز | ۶ |
| دنجونو مينه | ۷ |
| ساقي ته | ۸ |
| داوطن به ښکلی شي | ۹ |
| آزاد پرواز | ۱۰ |
| گونګ شوي فريادونه | ۱۱ |
| انساني چيغه | ۱۱ |
| د مبارزې سر | ۱۲ |
| زموږ وطن به آزاد شي | ۱۳ |
| داغزيو لار | ۱۴ |
| دخلکو غيرت | ۱۵ |
| د لمر جونگړه | ۱۵ |

# دکتاب فهرست


| موضوع | مخ |
|---|---|
| دڅښو جال | ۱٦ |
| نوی یون | ۱۷ |
| د زمان څرخ | ۱۸ |
| د امید زرینې وړانګې | ۱۹ |
| د ژوند قصه | ۱۹ |
| زمان تښتي | ۲۰ |
| اغزي او ګلونه | ۲۱ |
| کمزورې رڼا | ۲۱ |
| حرکت | ۲۳ |
| د پیریو په بڼې کې | ۲۴ |
| زه به تر څو ژاړم | ۲۴ |
| دوینو لار | ۲۵ |
| دا دڅمکو غل | ۲۵ |
| دعشق سندرې | ۲٦ |
| زما تندی | ۲۷ |
| زما شعر | ۲۸ |
| نوی عاشق | ۲۹ |
| جوالي ته | ۳۰ |
| اسیر انسان | ۳۰ |
| ښځه | ۳۱ |

## دکتاب فهرست


| موضوع | مخ |
|---|---|
| دعشق زور | ۳۲ |
| فریادي نفس | ۳۲ |
| زما شپه او ورځ | ۳۳ |
| درزمونو پرلور | ۳۳ |
| دبوسې سوال | ۳۵ |
| دجنګ سنګر | ۳۶ |
| درسوايي شوق | ۳۶ |
| زموږ ژوند | ۳۷ |
| دمينې ناکردې | ۳۷ |
| که حسن نه وای | ۳۷ |
| مرور يار ته | ۳۸ |
| دتوفان بچی | ۳۸ |
| خوني سترګې | ۳۹ |
| انقلاب را روان دی | ۴۰ |
| ګرداب | ۴۱ |
| غزل | ۴۲ |
| شاهدان پرغلو | ۴۲ |
| د اوښکو سېلاب | ۴۳ |
| لندنۍ ټوپۍ | ۴۴ |
| د ښځې ژړا | ۴۵ |

# دکتا ب فهرست


| موضوع | مخ |
|---|---|
| غزل | ۴۷ |
| د رستم لار | ۴۸ |
| افغان پردېس په کاباره کې | ۵۰ |
| پیغام | ۵۱ |
| غرونه او سلامونه | ۵۳ |
| د جاپان سبا وون | ۵۴ |
| انتخاب | ۵۵ |
| ما هېر کړه | ۵۵ |
| اې زما ورانه وطنه | ۵۷ |
| ما یا کوفسکي په مسکو کې | ٦۰ |
| قلندر شاعر | ٦۱ |
| دسبو پېټې | ٦۲ |
| له زمانې سره یو ځای | ٦۴ |
| بو لله په پسرلي کې | ٦۵ |
| بولله دوطن په پرتم او ماتم کې | ٦۹ |
| د زردشت دښار پسرلی | ۸۰ |
| وطن ته | ۸۳ |
| د پولادو زړه | ۸۴ |
| وطن ته | ۸۴ |
| تېر شوی بهار | ۸۵ |

# دکتاب فهرست


| موضوع | مخ |
|---|---|
| پښتون | ۸٦ |
| د ځوانۍ لمبې | ۸٦ |
| ځوان ته | ۸۸ |
| د سبا هيله | ۸۹ |
| ملګروته | ۹۱ |
| سرې وريځې | ۹۳ |
| د آسمان بدل رنګ | ۹۵ |
| يادونه او درمندونه | ۹۷ |
| سيلاني بزګر | ۱۰۰ |
| تا يادومه | ۱۰۳ |
| رائحه ساراته ووزو | ۱۰٦ |
| يتيم | ۱۰۷ |
| د مينې برخه | ۱۱۰ |
| دا دپکتيا غرونه | ۱۱۰ |
| جاپانۍ نجلۍ | ۱۱۴ |
| د بس خاطره | ۱۱٦ |
| ملګروته | ۱۱۸ |
| غر ونړيده | ۱۲۱ |
| نوی آهنګ | ۱۲۴ |
| پښتون | ۱۲۵ |

## دکتاب فهرست


| موضوع | مخ |
| --- | --- |
| دبخت لوبه | ۱۲۸ |
| دا پښتون | ۱۲۸ |
| دوطن بڼه | ۱۲۹ |
| د سر قرباني | ۱۳۰ |
| د مردۍ ننبنه | ۱۳۱ |
| د زيار ايستونکو لښکر | ۱۳۱ |
| پسرلی راروان دی | ۱۳۳ |
| دشهيد شوي اتل په يادو | ۱۳۴ |
| پا څېږه وطنه ! | ۱۳۶ |
| اې دنوي عصر باده | ۱۳۸ |
| رښتينې مينه | ۱۳۹ |
| دا وطن | ۱۴۰ |
| دشهباز سرود | ۱۴۱ |
| دهسک پر پلاز | ۱۴۹ |
| شهبازي کوڅرې | ۱۴۹ |
| تاريخ | ۱۵۱ |
| شاعره | ۱۵۲ |
| گوره شاعره | ۱۵۴ |
| اور ژبي شاعر ته | ۱۵۸ |
| محبوب سنگر ته | ۱۶۱ |

# دکتاب فهرست


| موضوع | مخ |
|---|---|
| د سپېدو ته | ۱٦۴ |
| زېرى | ۱٦۷ |